# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٠٧ ګڼه / دوشنبه ۰۸ رمضان‌المبارک ١٤٤٥ هـ.ق / ۲۸ حوت ۱۴۰۲ هـ.ش / ۱۸ مارچ ۲۰۲٤ ميلادي




اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:٠٥

سحر: ٤:٣٣

## د دولتي ادارو يو شمېر چارې وارزول شوې


د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي هبة‌الله اخندزاده حفظه الله له لوري د دولتي ادارو ترمنځ د وظيفوي تداخل د مخنيوي په موخه د ټاکل شوي پلاوي ترمنځ غونډه وشوه. دا غونډه د رياست الوزراء د اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د وظيفوي تداخل د مخنيوي پلاوي د غړو ترمنځ جوړه شوې ده. .د دې غونډې په پيل کې د دولتي ادارو يو شمېر موضوعات و ارزول شول او وروسته د ځينو ادارو ترمنځ د وظيفوي تداخل د حل په موخه هر اړخيز بحث او ارزوني ترسره او په اړه يې لازمې پرېکړې وشوې.د يادونې وړ ده چې دغه پلاوي له دې وړاندې هم د وظيفوي تداخل د مخنيوي په موخه ناستې ترسره کړې دي.

# چين د افغانستان پرګڼو پروژو د پانګونې لېوالتيا لري



کابل کې د چين سفير ژاو شينګ د رياست‌الوزرا له سياسي مرستيال مولوي عبدالکبير سره په ليدنه کې ويلي چې هيواد يې د افغانستان له سياسي او اقتصادي پراختيا ملاتړ کوي.ژاو شينګ ويلي: د مس عينک کان، د جلغوزو د پروسس او صادراتو سربېره په يو شمېر نورو اقتصادي برخو کې د چينايي پانګوالو پانګونې ښه پايله ورکړې ده. ښاغلي شينګ ويلي چې هيواد يې په افغانستان کې د ګڼو نورو پروژو د پانګونې لېوالتيا لري. ورته مهال د رياست‌الوزرا سياسي مرستيال ويلي چې اسلامي امارت له چين سره په بېلابېلو برخو کې د اړيکو او همکاريو پراختيا ته ژمن دی.

## د هلمند پر ټرافيکي پېښې، کورنيو چارو وزارت د خواشينې پيغام



کورنيو چارو وزارت په يوه پيغام کې د کندهار – هرات پر لويه لاره د ټرافيکي پېښې اړوند په يوه پيغام کې خپله ژوره خواشيني څرګنده کړه. دغه وزارت د خواخوږۍ په دغه پيغام کې ټپيانو ته بېړنۍ روغتيا او د شهيدانو کورنيو ته د زغم غوښتنه کړې ده.وزارت ليکلي چې د دې پېښې تر رامنځته کېدو وروسته پوليس سيمې ته رسېدلي او د پېښې قربانيانو او ټپيانو ته يې لومړنۍ مرستې رسولي دي.کورنيو چارو وزارت له موټرچلوونکو غوښتي چې د سفر پر مهال د ځان او نورو خيال وساتي. دغه وزارت په يوه سپارښتنه کې ويلي: کورنيو چارو وزارت په راتلونکي کې د داسې پېښو د نه رامنځ ته کېدو په موخه له ټولو ټرانسپورتي شرکتونو غوښتي چې مسلکي چلوونکي په کار وګوماري.کورنيو چارو وزارت له موټرچلوونکو غوښتي چې د سفر پر مهال د ځان او نورو ژوند ته دې پاملرنه وکړي.

## ۳ زره کيلوګرامه قاچاقي توکي نيول شوي

د کندهار، هرات او فراه ولايتونو په ځينو سيمو کې څه باندې درې زره کيلوګرامه بېلابېل قاچاقي توکي نيول شوي دي. باختر آژانس ته د ماليې وزارت په استول شوي خبرپاڼه کې ويل شوي چې د کندهار، هرات او فراه ولايتونو د ګمرکونو د کرځنده ځارنې کارکوونکو د يادو ولايتونو په بېلابېلو سيمو ۷مخ


## حمايت محصلان پوهنتون ننگرهار از نيروهای اردوی ملی اسلامی



محصلان پوهنتون ولايت ننگرهار دريک نشست افطاری که با منسوبان قول اردوی ۲۰۱ خالد بن وليد داشتند، حمايت شان را از نيرو های اردوی ملی اسلامی اعلام کرده و تاکيد داشتند به تفرقه افگنی اجازه نمی دهند.دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی امروز با نشر اين خبر گفته است: رهبری قول اردوی ۲۰۱ خالد بن وليد «رض» با ترتيب افطاريه به ملاقات محصلان پوهنتون ننگرهار رفته در کنار افطاری با اين دانشجويان، جويا احوال آنان شدند. مسؤلان اين قول اردو هدف از راه اندازی همچو برنامه ها را انتقال پيام برادری و همدلی به هموطنان خويش دانسته و تاکيد نمودند که نيروهای اردوی ۷مخ

## د زابل احصائيې رياست ۲۳ ميليونه افغانۍ عوايد راټول کړي

د زابل د احصايې رياست مسوولين وايي، چې په تېرو ۱۱ مياشتو کې ۴۰ برېښنايي پېژندپاڼې وېشلې دي. د زابل د احصايې او معلوماتو رييس مولوي ګل محمد احمد د باختر آژانس ته وويل، چې د دوو مرکزونو پرمټ يې د ياد ولايت په شاجوی او مرکز کلات کې خلکو چوپړتيا ګړندي کړې، چې د برېښنايي او کاغذي پېژندپاڼو د وېش له درکه ۲۳ ميليونه افغانۍ عوايد راټول او د دولت خزانې ته يې سپارلي دي.په ورته وخت کې د برېښنايي پېژندپاڼو يوشمېر مراجعينو خوښي وښوده ۷مخ






د سياست او دين ترون فطري دی ۲

۱۴۰۲ د خبريالانو لپاره خوندي کال و ۲

د څو قطبي نړۍ په وده کې د چې شل رول ۳

اولاد ته مو اسلامي تربيه ورکړئ ! ۴


## د آمو سيند د تحکيماتو ۲۵ سلنه چارې بشپړې شوې



د بدخشان ولايت د شغنان ولسوالۍ په شدوج کلي کې د پنج آمو سيند د څنډو د تحکيماتو پروژې چارې ۲۵ سلنه پرمخ تللې دي۷مخ

## د پاشدان بند پاتې چارې بشپړېږي



د اوبو او انرژۍ وزارت وايي، چې د هريرود - مرغاب سينديزې حوزې عمومي رئيس مولوي عبدالسلام مستوفي اغا د هرات ولايت پاشدان بند د پاتې چارو د بياپيلېدو په موخه د دغه بند له سيمې څخه ليدنه کړې او د ياد بند د پاتې چارو د پيلولو د چمتووالي په اړه يې خبر ورکړی دی. نوموړي په دې ليدنه کې ويلي، چې د دې ۷مخ

## سرمقاله

# حکومت او رسنۍ

ښکاره ده چې نن زمانه کې د تبليغاتو اوهرډول رسنيو له ارزښت او اغېزنه هيڅوک هم انکار نه شي کولی. ځکه خبرې،بيان او سپارښتنې خامخا پرانساني احساساتو څه اثراچوي.

تردې چې اوسني عصر کې خو درسنيو کارول دخورا سترو جګړو اومقابلو په معناً هم دي لکه چې موږ همدې لنډه موده کې پرخپلو ځينو ځوانانو دلويديځ والو دشيطاني رسنيو ژور اغېزښې نښانې په ډاګه وينو.همدا وجه ده چې موږ هم مجبور يو ترخپله وسه به د خپلو خلکو د اصلاح اود پرديو دسيسو اودرواغجن پروپاګند شنډولو لپاره حتماً له هرډول رسنيو کاراخلو.البته زموږ دهېواد پرزياتو رسنيو تېرو شلوکلونوکې ددښمن له خوا زښته ډېرکارشوی.په دې ډول چې ځينې خو آن له سره دپرديو له خوا تاسيس شوې، تمويل شوې اودپرديو ارزښتونو اوکلتورلپاره يې ډېرې هڅې هم کړې دي. ځينې بيا کاملاً تجارتي موخې لري، معنا يوازنۍ موخه يې دپيسو ګټل دي.همدارنګه ځينې داسې ورځپاڼې هم لرو چې ترپېرۍ زياته مخينه لري او داعموماًهغه دي چې لګښتونه يې همېشه دحکومتونو له خوا ورکړل شوي اوله همدې امله يې محتوا هم ترډېره دآمرينو اوچارواکو خبرې، دعوې اولاپې شاپې وي.حال دا چې په حقيقت کې له پخوا راهيسې همدغو سرکاري رسنيو ته هم يوه ډېره مناسبه لايحه جوړه شوې وه

## بانک مرکزی امروز ۱۵ ميليون دالر را ليلام می‌کند



بانک مرکزی افغانستان اعلام کرده که به منظور حفظ ارزش پول افغانی در مقابل اسعار خارجی، روز دوشنبه ۱۵ ميليون دالر آمريکايی را به طور ليلام به فروش می‌رساند.اين بانک ديروز با نشر اعلاميه‌ای از تمام صرافان و مرکز خدمات پولی خواسته تا در اين داواطلبی اشتراک کنند.در اعلاميه همچنان آمده است که برنده‌گان ليلام مکلفيت دارند تا حسابات شانرا الی ختم روز ليلام، تصفيه نمايند. اين درحالی است که بانک مرکزی هفته گذشته نيز مبلغ ۱۷ ميليون دالر امريکايی را طی داوطلبی به طور ليلام به فروش رسانيده بود.

### د کار او ټولنيزو چارو وزارت:

## زرګونه مېرمنو ته د کار زمينه برابره شوې

**شريعت:** د کار او ټولنيزو چارو وزارت مسؤلينو ويلي دي، چې د اسلامي امارت د بېکارۍ د له منځه وړلو لپاره ډېره هڅه کړې چې د ۱۴۰۲ هجري شمسي کال د پيل څخه تر اوسه پورې يې د ۱ لک او ۲۰ زره څخه زيات ځوانانو ته په دولتي اداراتو، خصوصي سکتور، د کانونو په استخراج او بېلا بېلو پروژو کې د کار زمينه ورته برابره شوې ده، چې پکې ۲۶ زره مېرمنې هم په دندو ګمارل شوې دي. د کار او ټولنيزو چارو وزارت وياند سميع الله ابراهيمي د شريعت ورځپاڼې ۷مخ

# ۱۴۰۲ د خبریالانو لپاره خوندي کال و

هـر کال د کـب ۲۷مـه د خبریالانـو کار او زیار ته د درنښـت پـه موخه کابل او بېلابېلـو ولایتونـو کـې د جلا جـلا مراسـمو په ترڅ کـې نمانځـل کېږي. سـږ کال هم د خبریال ملي ورځې او د خبریالانو له کار د درنښـت په پار په کابل کې د افغانسـتان رسـنیز بنسـټ او ځینو دولتي رسـنیو له لوري ونمانځل شوه. که څه هم دا کال له امنیتي پلوه د افغان خبریالانو لپاره ښه او له مرګ ژوبلې خوندي کال وو خو د رسنیو لپاره د ځانګړي قانون خلا او اطلاعاتو د خبریالانو پر وخت نه لاسرسی هغه عمده ستونزې وې چې د دوی کاریې له خنډ او ځنډ سره مخ کړی دی.

د افغانسـتان د رسـنیز بنسـټ ویانـد د دغـې ورځـې پـه مناسـبت جـوړې شـوې غونډې تـه وویـل، چـې اسـلامي امـارت دې د پروپاګنـد او اوازو د مخنیـوي لپـاره پـر وخـت خبریالانو تـه اطلاعات پـه واک کـې ورکړي. ښـاغلي فیضـي دغـه راز د رسـنیو او اطلاعاتـو تـه د لاسرسـي قانـون پـه اړه څرګنـده کـړه: «د رسـنیو او اطلاعاتـو د لاسرسـي قانـون چـې قندهـار تـه د تصویـب لپاره اسـتول شـوی، توشـیح شـي او ټولـو خبریالانـو ته په لاس ورکـړل شـي تـر څـو پـه دې برخه کـې شـته سـتونزې هوارې شـي».

د شمشـاد خبري شـبکې د سیاسـي خپرونو مسئول روح الله علیـزي وویل، چـې ختمېدونکـی کال پـه امنیتـي برخـه کـې د خبریالانـو لپاره ډېر ښـه و خـو اطلاعاتو ته د لاسرسـي پـه برخه کـې لا هم څـه ناڅه محدودیت شـته.




روح اللـه علیـزي زیاتـه کـړه، دا چـې افغانسـتان له تـودې جګـړې راوتلی او دا مهـال لـه روانـي او سـړې جګـړې سـره مـخ دی، حکومـت تـه پـه کار دي چـې پـه دې جګـړه کـې د بریـا لپاره د رسـنیو تـر څنـګ ودرېږي. د هغـه پـه وینـا، دغـې موخـې تـه د رسـېدو لپـاره دې اسـلامي امـارت اطلاعاتـو تـه د خبریالانـو لاسرسـی اسـانه کـړي او داسـې فضـا رامنـځ تـه کـړي، چـې خبریـالان پـه هوسـا ذهـن خپـل کار تـه دوام ورکـړي. ښـاغلي علیـزي وویـل: «په افغانسـتان کـې چې څوک له ننګونو سـره سـره دغـه مسـلک پر مـخ وړي، همـدوی د افغانسـتان واقعـي خدمتـګاران دي. افغـان حکومـت او نړیوالـه ټولنـه دې دوی کار لـه پامـه نـه غورځـوي».

د افغانستان د خپلواکو رسنیو ټولنې مشر حجت الله مجددي د دغې ورځې په تړاو وویل، له مودو وروسته په داسې کال کې د خبریالانو د ملي ورځې په نوم یوازینی کال نمانځو، چې هیڅ خبریال ته په کې د خبریالۍ په لاره کې مرګ یا ژوبله نه ده اوښتې. د هغه په باور د اسـلامي امارت په راتګ سـره د رسـنیو پر وړاندې د سـرغړونې کمېسـیون پیـاوړی شـو خو په وینـا یې لا هـم خپل ځـای ته نه دی رسـېدل او نومـوړي هیلـه څرګنـده کـړه، چـې هر څـه ژر خپل ځـای تـه راوګرځي. نومـوړي وویل، که څه هـم د کورنیو چارو او د اطلاعاتـو او فرهنګ وزارتونو په خپله اډانه کې اطلاعاتو ته د لاسرسـي ریاسـتونه جوړ کړي خو بیا هم اطلاعاتو د نه لاسرسـي په برخه کې شکایتونه شته او په دې برخه کې د پام وړ کار نه دی شوی. هغـه ټینګار وکړ، چې اسـلامي امارت دې یـادې برخې ته جـدي پاملرنه وکړي او رسـنیو او خبریالانـو تـه دې پـر خپـل وخت اطلاعـات پـه لاس ورکړي.

د حیدر محمد نظري په نوم خبریال هم اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې له شته ستونزو سرټکوي او وایي، چې دوی په هغه ډول چې اړتیا یې ده، اطلاعات نه شي ترلاسه کولی. هغه وویل، چې افغان خبریالان له ګڼو اقتصادي ستونزو سره مخ دي، هغه ملي او نړیوال بنسټونه چې له خبریالانو د ملاتړ په نوم جوړ شوي د دوی ستونزو ته رسېدنه نه کوي. د ده پـه وینـا، ملي او نړیـوال بنسـټونه دې په واقعـي ډول په معنـوي او مادي برخو کې د افغان خبریالانو تر شـا ودرېږي او د دوی سـتونزو ته دې ورسـېږي. د یادولـو وړ ده، چـې یو شـمېر افغـان خبریالانـو د دوی د حقونو د تر لاسـه کولـو لپاره یـو غورځنګ پـه لاره اچولـی او ادعا کـوي، چـې د خبریالانو د دفـاع پـه نوم شـته بنسـټونه د دوی لـه نوم څخـه په اسـتفادې د ځـان په ګټه کار اخلي.

**نذیـر منیـب**

# د سیاست او دین تړون فطري دی

**خالدافغان**

ښایي تاسو په ګڼو ځایونو کې لیدلی وي چې دین انساني فردي او تشریفاتي کړنه ده. دا جمله نن سبا د ځوانانو په مجلسونو او بحثونو کې ډېره لاس په لاس کېږي. مانا دین ستا شخصي کار دی او هېڅوک حق نه لري چې تا ته د دیني احکامـو پر کولو نه کولو تعزیر، جزا او... کړي. دین ستا شخصي معامله ده، فردي اړیکه ده او د دنیا پاتې چارې باید له دین پرته پر مخ یووړل شي. دا تر ټولو خطرناکه مفکوره ده چې نن سبا پرې ځوانان اخته دي او غالب ګومان دا دی چې مفکوره تېرې ۲۰ کلنۍ دیموکراسۍ کې په پوره شد او مد د ځوانانو په ذهنونو کې کرل شوې دی.

پر دې ناروغۍ افغان ځوانان هوایي نه دي اخته شوي؛ بلکې دا (دین د انسان او خدای ج شخصي معاهده او اړیکه ده.) د نننی تمدن او ډیموکراسۍ تر ټولو غټه ښننه ده. نننی نظامونه پر همدې یوې جملـه راټول دي او د معاصر تمدن پر تندي همدغه مفهوم حک شوی.

د دغې جملې پر بنسـټ چې نننی کـوم تمدن جوړ شوی، په هغه کې له انسان سره د انسان اړیکه او د انسان او نړۍ ترمنځ اړیکې بیخي له الله تعالی او دین څخه آزادې دي، ټولنیزې چارې آزادې دي، ښـوونه او روزنه ازاده ده، اقتصاد او سوداګري ازاده، حکومتولي، قانون، پارلمان، سیاست او... هر څه ازاد دي. حتی هغه خلک چې اوس مهال د تمدن اصلي مخکښان او بانیان دي، هغوی ته خو دین اوس یوه فردي او شخصي معامله هم نه ښکاري، د هغوی شخصي اړیکه له هر ډول معنوي ارزښتونو او انګېرنو پاکه شوې ده.

د دین او سیاسـت د بېلتون او دین شخصي اړیکه بلل بیخي نامنطقي او باطله دعوه ده. دا خبره په ډېرو ساده ټکو کې هم ردېدلی شي. لومړی دا چې انسـان ټولنیز مخلوق دی او ټولې کړنې یې له نورو سره په تعامل کې رامنځته کېږي. انسان کورنۍ، خېل، قوم، هیواد، ټولنه او.. لري. مانا دی ګوښـی نه دی او داغلته ده چې دین ستا شخصي کړنو پورې نه منحصرېږي. دین ستا د پېښو له نوکونو د سر تر وېښـتو هر څه در پوښلي. کره وړه، نورو سره چلند، سوداګري، راکړه ورکړه، حتی د خوب، خوراک، ناسته پاسته او هر څه کې په لسګونو او سلګونو سپارښتنې درته لري.

د دین فطرت سیاسـت او حکومتولي ده. موږ وړاندې ویلي وو چې دین اصلاً د همدې لپاره راغلی چې پر ټولنه حکومت وکړي، انسان د انسان له اسارت خلاص کړي، له خاورینې کرې د ظلم او وحشت لمنه ټوله او پر ځای یې عدل او امن پلی کړي.

انسانان په خپل ژوند کې حتمي یو ماورا ځواک او د هغه لوی قدرت لارښـوونو ته اړ دی. همدغه وجه ده چې قادر ذات وخت په وخت د انسـانانو د ټولنیز سمون په موخه رسولان راستولي دي. داسې ژوند چې په هغه کې دیني او سماوي انګېرنې او لارښوونې نه وي، ښایي تش حیوانیت وي. د نظام تنظیـم او اداره کول یوازې د دین کار دی او دا به هېڅ انساني عقل ونه مني چې دین دې په ټولنه کې محکوم او حاکمیت دې له دین پرته نور څه وکړي.

تاسو که تېر قومونه وګورئ د دوی د اصلاح او عقیدوي ګډوډیو د مخنیوي په موخه به الله ج خپل رسول رالېږه او هغه ته به یو اسـاسي قانون (اسماني کتاب او..) هم ورکول، تر څو د دغو لارښـوونو په مټ ټولنه رهبري کړي.

په تېر کې به چې کله هم د الله تعالی بندګانو فساد ته مخه کړه او په خپل کلي او کهول کې به یې ظلم او بې نظمي حاکمه کړه، نو خدای تعالی به ورته فورا یو نبي او خپل استازی راواستاوه؛ څو د خلکو ترمنځ عدل او امن قایم کړي. نو دلته په مطلقه توګه د دین او سیاست د جلاوالي پر نظریې د بطلان کرښه راکښل کېدی شي. موږ به یې لومړی له کلام الله مجید څو بېلګې راواخلو: الله تعالی خپل بنده او رسول داوود ع مخاطب کوي او ورته وایي. ژباړه: ((ای داووده! موږ ته په خپله ځمکه خلیفه(واکمن) ګرځولی یې. نو د خلکو ترمنځ پرېکړې په حق او نیاو سره کوه. د نفس او هوا پیروی مه کوه چې تا د الله ج له لارې وګرځوي. [ص سورت، ۲۶ مه ګڼه ایه]

له دې ایت شریف څخه دا په ډاګه کېږي چې د خدای نبي به د انسـانانو ترمنځ د پرېکړو او سیاست چلونې صلاحیت لري او بیا رسول مخاطبېږي چې د خپل نفس به نه مني. مانا تاته یو څه درکړل شوي چې د هغو په رڼا کې به عدالت قایموې.

تاریخي شـواهد دا په ډاګه کوي چې په ټولو پخوانیو امتونو او مهالونو کې حکومتونو مذهبي بڼه درلوده او د واک او چارو واګې یې د انبیاوو په لاسونو کې وې.

موږ په ډاګیزه توګه وایو چې دین فطرتا خدای تعالی پر ځمکه د حاکمیت لپاره پیدا کړی دی. مګر هغوی چې له دغې مسئلې ځان ناګاره کوي، اصلاً د شیطان په لومو کې راګیر دي.

د دین او سیاست د یووالي او تړون اړوند ګڼو نامسلمانو پوهانو هم اعتراف کړی دی. یوه مشـهور فرانسـوي فیلسوف ویلي: ((له شک پرته محمد(ص) د خپل دولت لپاره په زره پورې سیاسي نظام جوړ کړی و.))

یو بل پوه وایي: (( د اسـلام سـتر پیغمبر (ص) په یوه وخت دیني او سیاسي چارې په غاړه درلودې او پر مخ یې بیولې.))

یو بل تن وایي: (( دا روښـانه خبره ده چې اسلام یوازې مذهبي چارې او ارزښتونه نه دي بلکې د یوې مستقلې ټولنې، منظم حکومت او قوانینو لرونکی نظام دی.))

اسلام یوازې عبادات او احکام نه دي. اسلام کورنی نظام دی، ټولنیز مسایل، حکومتولي، قانونونه، اقتصاد، نړیوالې اړیکې او هر څه ته واضح تعلیمات لري. له اسلامي او دیني حکومتونو پرته په وضعي قانونو جوړ حکومتونه په هېڅ ځای د اسلامي دولتونو ځایناستي نه شي جوړېدلی. د بشر په لاس جوړ شوي قانونونه کله هم د د الله ج له قانون سره نه شي برابرېدی. اسلامي قانون له بره رانازل شوی چې هېڅوک پکې د تحریف، تغییر او بدلون وړتیا نه لري او نه هم ټولنیز او مهالي اوښتون سره یې احکام بدلون کوي. قانون جوړول اصلاً د کایناتو د خالق چار دی او په دې کې انسـان ته د هېڅ ډول لاسوهنې اجازه نشته. که نړۍ واقعاً غواړي چې په دې خاورینه کره کې دې عدالت پلی شي، نو دا معما د اسلامي نظام په پیاده کولو سره کېدی شي.

په اسلام کې د هر چا حقونه مالوم دي، کوچنی، زوړ، تور، سپین، عرب، عجم ته پکې ځای نشته. هو، اسلام بشپړ نړیوال نظام دی او په پلې کېدو سره یې نړۍ له شته ناورینونو ژغورل کېدلی شي.

# نړۍ دې افغانستان کې اسلامي ارزښتونو ته درناوی وکړي

**وحیدالله هڅاند**

پـه افغانسـتان کې له څـه باندې دوه نیمـو کلونو راهیسـې اکثـره هېوادونـه او نړیوال سـازمانونه د بشـري حقونو په ځانګـړې توګه د نجونو او ښـځو حقونو د نقض پرله پسـې ادعاوې کـوي، د ملګرو ملتونو د بشـري حقونو د سترې شورا ۵۵مې غونډې ګډونوالو په یـوې ګډې اعلامیې کې یـو ځل بیا په افغانسـتان کې له کار او زده کـړو د افغان نجونو او مېرمنو پر منع کولو اندېښـنه ښودلې او له سرپرست حکومته غوښـتل شوي، چې د ښځو او نجونو حقونه تامین کړي.

په داسـې حال کې چې په افغانستان کې د ښځو ټول حقونه خوندي دي او اسـلامي شـریعت چې انسان ته کوم حق ورکړی، اوسـنی حکومـت یې هم خپله وجیبه ګڼي او فرض یې بولي، چې خلک په ځانګړې توګه افغان مېرمنې د اسـلامي لارښـوونو پر بنسټ خپل حق ترلاسـه کړي، د افغانستان اسلامي امارت ټولې پرېکړې د اسلامي شـریعت د لارښوونو، دوو اړخیـزو او څو اړخیـزو تعهداتو او ملـي ګټو په رڼا کې ترسـره کېږي او چمتو دی چې له نړیوالې ټولنې سره ګډو اندېښـنو ته د رسـېدنې په موخه تعامل ته دوام ورکړي. نړۍ باید په افغانسـتان کې اسـلامي ارزښـتونو ته درناوی وکړي او د افغانستان په کورنیو چـارو کې نوره لاسـوهنه ونه کړي، ځکـه له کاره د ښـځو منع کېدل د افغانسـتان یوه کورنۍ مسئله ده او دغه ډول کړنې پر بهرنیـو هېوادونو هېڅ کوم اغېز نه لـري، هغه دریځونه چې د ژور تفاهم پر بنسـټ ولاړ نـه وي، د منلو وړ پایلې نه لـري او افغانانو ته هېڅ ګټه نه کوي.

ملګـري ملتونـه د حکومتونو ترمنځ هغه سـازمان دی، چـې موخـې یې یـوازې د نړیوالې سـولې او امنیت ټینګښـت، د ملتونو ترمنځ د دوسـتانه اړیکو پراختیـا، د نړیوالـې همـکارۍ رامنځتـه کول او د ملتونـو د چارو همغـږي کـول دي، معنی داچې د ملګرو ملتونو سـازمان باید نړۍ کې د امن ساتلو ته پوره پاملرنـه وکړي، په نړیواله کچه د بېلابېلو قومونو تر منځ ملګرتیا او ښـې اړیکې جوړې کړي، دغه راز یاد سـازمان باید د نړۍ په کچه د ښه اقتصاد، ثقافت او ښه انسـاني معاشرې پیدا کولو لپاره د هېوادونو تر منځ ښـې اړیکې وسـاتي او د غریبو هېوادونو د فقر په له منځه وړلو کـې کوټلي ګامونه اوچت کړي، نه داچـې د غربي نـړۍ د موخو په ترلاسـه کېدو د بل چـا په کورنیو چارو کې مداخلـه وکړي او په اړه یې مکاره اندېښنه ښکاره کړي!

افغان ولـس د ملګرو ملتونو په ګـډون له ټولې نړۍ غواړي، چې د افغانانو اسـلامي فرهنګ او ارزښتونو تـه درناوی وکـړي او نور د افغانسـتان پـه کورنیو چارو کـې بېځایـه مداخله ونه کـړي، افغان ولس نور نه غـواړي چې خپل هېواد د پردیـو موخو لپاره د جګـړې ډګر شـي او د تېر په شـان خپله خاوره د پردیو اسـتخباراتي کړیو د اور په لمبو وسوزول شي، نو اړینه ده چـې ملګري ملتونه په افغانسـتان کې د دغه اندېښـنې د مخنیوي لپاره په اسـلامي امارت د بندیزونـو لګول په غیر مشـروط ډول ودروي او نور دې ورتـه بېلابېلې پلمـې نه لټوي، ملګـري ملتونه باید پـه بې طرفه ډول خپل قوانین او مقررات تعقیب کړي او له هېوادونو سـره په اړیکو کې باید هېڅ ډول تبعیض او تعصب ونه ساتي.

پـه نړیواله کچه ځینې هېوادونه په دې هڅه کې دي، چې افغانسـتان کـې د غربیانو د غوښـتنو ترڅنګ غربـي فرهنګ رواج کړي، چې دا زمـوږ له فرهنګ سـره ډېر توپیر لـري. غربـي ټولنه له یـوه فرهنګه پیروي کـوي، د ښـځې او نارینه حقونـه یو بولي؛ خو په اسـلامي ټولنه او په ځانګړې توګه افغانسـتان کې بیـا دا هر څه متفاوت دي، نـو غرب دا بېلانس نه سـاتي او نه دې اصـل ته پاملرنه کـوي، بلکې د یوې پلمې په توګه د بشـر د حقوقـو موضوع مطرح کـوي او په مکـرر ډول تورونه پـورې کوي چې دا هـر څه بې ګټـې دي. دا لومړی ځل نـه دی، چې د افغانسـتان په تړاو دا ډول څرګندونـې کېږي، بلکې له دې وړاندې هـم ورته خبرې شـوي دي، بهرنیان افغانسـتان کې خپلې سیاسي موخې لري، نو ځکه نه غواړي د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې موضوع مطرح شـي. د نړۍ ټول هېوادونه د خپلو ملي ګټو پر اسـاس په مسـایلو کې دخیل او یا هـم نظر ورکوي او د امریـکا متحده ایالت هم همـدې ګټو ته په کتو دا ډول څرګندونـې کوي. نن که د نـړۍ د هېوادونو مشـران او چارواکي د افغانسـتان پر موضوع خبرې کـوي، دوی خپلې مغرضانه ګټـې مخکې له مخکې په پام کې نیولـې او همدا اوس هم د خپلو مغرضانه او شومو ګټو د تر لاسـه کولو لپاره په یوه او بله پلمه یې هڅـې ګړندۍ کړې. ملګـري ملتونه چې په نړۍ کې ځان د سولې راوسـتلو مخکښ بولي او یوازینۍ موخې یې د نړیوالې سـولې او امنیت ټینګښـت، د ملتونو ترمنځ د دوسـتانه اړیکـو پراختیااو د نړیوالې همـکارۍ رامنځته کول دي، نو بیا ولې د خپلو موخو او مقاصدو خلاف کړنې ترسـره کوي، دوی چې په نړۍ کې یوازې افغانسـتان تر غوږ نیولی او هر وخت یې په اړه اندېښـنې ښـکاره کوي، ډېـره د خندا وړ ده، ځکه که دوی ته د بشـر حقونـه مهم وای، نو د فلسـطیني مېرمنو د حقونو پر نقض ولې غږ نه پورته کوي، چې همدا اوس هم په مبارکه میاشـت رمضان کې شـهیدانېږي او د سـترګو په وړاندې یې اولادونه د وینـو په ډنډ کې لامبي، آیا د نړۍ په کچه یوازې د افغان مېرمنو بشـري حقونه نقض شوي، کنه په نوره نـړۍ کې هم نقض کېږي، تاسـو فکر وکړئ، چې د دغه توپیري چلند تر شـا کومې موخې نغښـتې، ما مخکې وویل چې غربي نړۍ غواړي د ملګرو ملتونو له لوري افغانستان کې خپلې سیاسي موخې ترلاسه کړي، خو همدغو مغرضو هېوادونو او سـازمانونو ته د افغـان ولس پیغام دادی، چـې هېڅکله به د دوی تر اغیزې لاندې رانه شـي او خپلو شومو موخوته به ونه رسیږي.

# د څو قطبي نړۍ په وده کې د جي شل رول

ثناء الله عمران

د G۲۰ (شل ډلې) رامنځته کېدلو نېټه ۱۹۹۹ ز کال ته ورګرځي چې همدغه مهال یې د وزیرانـــو په کچه لومړۍ غونډې جوړې کـــړې، د ۲۰۰۸ ز کال راهیســـې د هېوادونـــو د مشـــرانو کلنۍ غونډې هم جوړوي. دغه غونډې په منظمه توګه د ســـوداګرۍ، روغتیا، اقلیم او نورو مسائلو په اړه د نړیوالې پالیسۍ د همږغۍ په موخه دي.

شـــل ډله د شـــلو ســـترو صنعتي هېوادونو یو کلـــب دی چې د نړیوالـــو اقتصادي او سیاســـي موضوعګانو پـــه اړه خبرې اترې کوي. خو جي شـــل ډله په لومړیو کـــې د اقتصادي موضوعګانو لپاره راغونډتل کېده چې وروســـته سیاسي مسائل هم اجنډاء ته ورګډ شـــول، چې ښـــه بېلګه یې د اندونیزا د بالي ټاپو د ۲۰۲۲ کال غونـــډه وه. د بالي د غونډې په نهایي اعلامیه کې پر اوکراین د روســـې یرغل غندلو ته ځای ورکړل شوی وو خو د نوي ډیلي د غونـــډې په نهایـــي اعلامیه کې هماغه ډول کـــوم څه نه لیدل کېـــږي. حتی تر دې چې د هند په سرمشـــریزه کې د زلنســـکي ګډون ته اجازه ورنه کړل شوه.

پورته ذکر شـــوي دواړه نېټې (۱۹۹۹، ۲۰۰۸) مهمې دي ځکه پـــه یادو کلونو کې د نـــړۍ په کچه مالي او اقتصـــادي بحرانونه رامنځته شـــول چې ډېر یا لږ یې ټوله نـــړۍ اغېزمنه کړه خو لوی اغېز او ځینه یې مخ پر وده او وروســـته پاتې هېوادونو ـــ سویلي نړۍ ـــ ته متوجه وه.

هغه بنســـتیزه ســـتونزه چې له پخوا مطرح شـــوې، تر نن ورځې پورې نه ده حل شـــوې د بین المللي مقرراتو تدوین او مدیریت په برخو او په بیـــن المللي اقتصادي بنســـټونو کې د نړۍ د غیر غربـــي هیوادونو کم حضـــور دی په ځانګړې توګه د اســـلامي هېوادونو.

په سیاســـي کچـــه دوه لوی غیـــرې غربي هېوادونه، روســـیه او چین،چې د م.م ســـازمان د امنیت شـــورا دوه دایمي غړي دي، د ویټو امتیاز دوی ته دا فرصت ورکړی څو د هغه مســـودو مخه ډب کـــړي چې د دوی په نفع نه وي یـــا مازې د ډله ییز غرب په ګټه وي.

په عمومي توګه د م.م سازمان په عمومي اسامبله کې بیا تساوي والی شـــتون لري ځکه هر هېواد د یوې رای حق لري خو په بین المللي مالي بنســـټونو کې وضعیت تر ډېره بریده متفاوت دی.

د پیســـو په بیـــن المللي صندوق او یو شـــمېر نورو جوړښـــتونو کې هم مســـاوات نه ترســـترګو کېږي ځکه هلتـــه د یوه هېواد او یوې رأیې اصول شـــتون نه لري، د هر هېواد د رأیو شمېر د هغه



پـــه اقتصادي ځواک پـــورې تړلی دی. نو ویلی شـــو دا لوېدیځ هېوادونه دي چې د یادو بنســـټونو په پراختیا او تصمیم نیونه کې پرېکنده او مسلط نفوذ لري.

پـــه دې ډول د پراختیـــا په برخه کـــې نابرابرې پـــه دوامداره او ظالمانه توګه سره تقویه شوې ده. دا کار د یو لړ مالي، اقتصادي او پانګونې طرزالعملونو په واســـطه شـــوی چې دا چاره د مخ پر ودې او وروســـته پاتې هېوادونو ډېری اســـتازو او سیاستوالو له لوري نوی استعمار بلل شوی.

سربېره پردې، له ډله ییز غرب پرته د نړۍ ډېری هېوادونه د پیسو بین المللي صنـــدوق(IMF)او نورو جوړښـــتونو څخه پورونه ترلاســـه کوي او د دوی لوی مالي مقررات چـــې تر ډېره بریده پـــه دې هېوادونو کـــې په جدي توګه د عمومي ناخوښـــۍ لامل او ځینې وختونه د پور تر لاســـه کوونکـــو هېوادونو د صنعت او پانګونې پالیســـۍ د پراختیا خنډ بلل کېږي.

لـــه ډېرو جهتونو د پورونو د بوج پایلې او د پیســـو د بین المللي صندوق ســـخت اصول د دې لامل شـــوي چې مخ پر ودې او وروســـته پاتې هېوادونـــه په ځانګړې توګـــه د ۱۹۹۷-۱۹۹۹ ز کالونو په موده کې د نړیوال مالي بحرانونو اصلي قرباني شـــي.

د جـــي ووه(G۷) غـــړي د پیســـو د بین المللـــي صندوق لوی غښـــتلي اقتصادونه جوړوي. د دغه سیاســـي او اقتصادي فورم هېوادونه ادعا کوي چې دوی د پلورالیزم، لیبرال ډیموکراسۍ او استازي حکومتونو ارزښتونو ته ژمن دي.

د دغه چـــوکاټ دننه دوی کولی شـــي خپلې پالیســـۍ همږغي کړي، پر یو شـــمېر مســـائلو هوکړه وکړي او بیا په نړیواله کچه د یو ډول متحـــد جبهې په توګه عمل وکړي.جـــي اووه ډله په مخ پر ودې او وروســـته پاتې نړۍ کې دقیقاً د نابرابرۍ او د لوېدیځ هیوادونو د دریځ د پیاوړتیا ســـمبول ګڼل کېږي.

په دغه ډول شـــرایطو کې جي شـــل لومړی د وزیرانو او وروسته د هېوادونو د مشـــرانو په کچه غونډې پیل کړې. په یاد جوړښت کـــې د نړۍ لـــوی اقتصـــادي طاقتونه شـــتون لري خـــو د نوي ډیلـــي په غونـــډه کې یې تر منځ پاشـــلتیا ډېره وه. د جي شـــل له راڅرګندېدو ســـره ســـره په بین المللي مالي بنســـټونو کې د پرمختللـــو او مخ پـــر وده هېوادونو ترمنځ نـــا انډولي پر خپل ځای پاتې ده.

د ډېرو له انده په جي شـــل کې جي اووه داسي ګڼل کېږي لکه جـــي اووه جمع(G۷+)، حتی د جي شـــل رامنځته کولو څخه مخکـــې جي اووه وخت په وخت د مخ پر وده هېوادونو څخه ډېری مشـــران خپلو غونـــډو ته رابلل. چې د همـــدې منطق پر بنســـټ د جي اووه غونډو په پای کې د جي شـــل نوم ترلاسه کړ. په دې تړاو سیاســـي غرب هیله لـــري چې هرڅوک باید له دې امله د دوی څخه مننه وکړي.

پـــه ورته وخت کې د جي شـــل رامنځته کول د جي اووه عمر ته د پای ټکی ایښـــودلو لامل نه‌شـــو بلکې دا باقي پاتې شو او لاهم لـــه خپلې اجنـــډاء او لومړیتوبونو ســـره منظمې غونډې کوي او له دې لارو هڅه کېږي څو د سیاســـي غرب د ټینګښت او یووالي لپاره ګټنه وشي.

په دې وروســـتیو کلونو کـــې دا تقریباً یـــو دود ګرځېدلی چې د جي اووه غونډې د جي شـــل تر سرمشـــریزو وړاندې ترسره کېږي چـــې دا چاره دوی ته د ګډ دریځ نیولـــو او بین الغربي همږغـــۍ لپاره خورا پیاوړی فرصت په لاس ورکوي.

خپله غیرغربي هېوادونو هم جي اووه ته تقریباً ورته میکانېزم د جوړولو اړتیـــا او اغېزناکتوب درک کړی. له همدې امله بریک تقریباً په کومو کلونو کې چې جي شـــل رامنځته شو، په ۲۰۰۶ - ۲۰۰۸ ز کلونو کې رامنځته شـــو. چې وروسته د بریک سره د ســـویلي افریقا له یوځای کېدلو سره د بریک(BRIC)لنډیز په بریکس(BRICS) واوښـــتی. پـــه ۲۰۲۴ ز کال کې یې د غړو د شـــمېر پـــه ډېرېدا کې بل مهم بدلـــون تجربه کړ. په دې توګه د نا غربي مخکښـــو هېوادونو د دې کلب د غړو شـــمېر د پراخېدو په درشـــل کې برېښـــي او ډله‌ییز غرب هم له همدې امله اندېښـــمن دی چې ممکن د بریکس چټـــک پرمختګ به په بېلا بېلـــو ډګرونو کې د دوی هېژموني تـــه د نزول په لوري یون ورکړي.

په بریکس او جي اووه کې تر ډېـــره بریده د ورته ګټو هېوادونه ســـره یوځای شوي چې په عمومي توګه د ارزښتونو او سیاست لـــه مخې په ورته څپه کې دي. لـــه همدې امله د دوی د خبرو اترو پایلې د پرمختګونو ســـره مل وي، خو د جي شـــل په اړه داســـې څه نه‌شي ویل کیدی، ځکه له یوې خوا په جي شل کې د غربـــي هیوادونو بلاک او له بلـــې خوا د غرب ضد هېوادونو شـــتون د دغه جوړښـــت د نه اغېزناکتوب لامل ګرځي،چې دا چاره د نړۍ د څـــو قطبیتوب بهیر چټکوي.

# شیر برفی را جدی نگیرد

احمد

جنایـــات رژیم صهیونیســـتی اســـرائیل درغزه،درمـــاه مبارک رمضان همچنان به شـــدت ادامه دارد ، اما باتأســـف جهان اســـلام نظارگرودرعین حال بی تفاوتـــی را اختیارکرده اندکه این بـــی تفاوتی وعـــدم مســـؤلیت پذیری دربرابـــر برادران فلســـطینی ما که بارســـنگینی رابه نمایندگی ازدیگر مسلمانان ، آن هم با دســـتان خالی وشـــکم گرســـنه بدون امکانات به عهده گرفتـــه اند، رژیم جبار اســـرائیل وحامیـــان خونخوار جهانـــی اش را بیشـــتر ازهرزمان دیگر جرأت داده اســـت، تا ســـرحدی که جوبایدن رئیـــس جمهور امریـــکا ،موضوع جنـــگ غزه را دریک مکان تفریحی که ایســـکریم به دســـت داشـــت درمقابل رســـانه ها مطرح وتاکید کرد کـــه احتمالاً درمـــاه رمضان آتش بس صورت گیرد این برخود ســـرد وبی تفـــاوت رئیس جمهور امریـــکا درمقابل جنایات بی پیشـــینه ی رژیم ســـفاک درحقیقت هزاران پیام به جهان اسلام دارد، اما باتأسف ســـران کشورهای اسلامی وســـازمان همکاری های اســـلامی و...، نه چشـــم های شـــان حوادث دردناک ودلخراش غـــزه را می بینـــد ونه هم گوش هایشـــان صدای مهیب بمب های مخوف وآتشـــزا راکه درغزه ،اســـتعمال می گردد می شـــنوند ونه هم صـــدای ضجه ی کـــودکان وزنان گرســـنه وتشـــنه یی غزه را ونه هـــم آقایی جوبایـــدن راکه به اســـرائیل پرســـتیژ کاذب می دهد را درک مـــی کنند ،بحث پرتـــاب کمک های مـــواد اولیه وخوراکی امریـــکا از هوا به نوارغـــزه هم درحقیقـــت ترفندی اســـت که امریـــکا آنرا به نمایـــش می گذارد، تا ســـرحدی که اخیـــراً جوبایدن رئیس جمهور امریکا درســـخان خـــود ازعملکرد بنیامیـــن نتانیاهو نخســـت وزیراســـرائیل ، انتقاد کرده وگفته کـــه نوع برخورد نتانیاهـــو با جنگ غزه به اســـرائیل آســـیب می رســـاند، ولی باتمـــام پرروی اضافه کرده که اســـرائیل حق دارد که حماس راتعقیـــب کنـــد ، باید به ازدســـت رفتـــن جان بـــی گناهان فلســـطینی توجه داشته باشـــد،اما درپهلوی این رجز خوانی هـــا ، حرف دل خود را نیـــز بیان کرد که امریکا ازاســـرائیل همچنـــان حمایت ودفاع خواهد کرد وایـــن حمایت راحیاتی خوانـــد ، پس درایـــن صورت کـــه امریکا حامی اســـرائیل باشـــد،ضرورت به پرتـــاب کمک های غذایـــی ازطریق هوا به نوارغزه چیســـت؟ بناً ازســـخنان ضد ونقیض بایدن چنان اســـتنباط می گردد که امریکا درجنایات علیـــه مردم مظلوم وبی دفاع فلســـطین شریک درجه اول اسرائیل است.

بنابریـــن ادامه حملات زمینـــی ،هوایی ودرضمـــن تخریب شـــبکه های آب رسانی ،حمله برشـــفاخانه ها، ضرب وشتم زخمیـــان وبی حرمتـــی به کادر هـــای صحی شـــفاخانه ها وهـــزاران جنایت دیگر کـــه قلم از تحریرش عاجز اســـت ، درنوازغزه به وقوع می پیوندد که نه تنها بی حرمتی ودســـت کـــم گرفتن مســـلمانان جهان اســـت ،بلکه این بـــی تفاوتی برســـازمان همکاری های اســـلامی، کشـــورهای قدرت مند جهان اســـلام و... اســـت که قطعاً ادامه این وضعیت انسان رابه یاد گفته های شـــیخ احمد یاسین می اندازد که فرموده: { بچه که بودم تصور می کردم، اســـرائیل غزه را اشغال کرده اســـت ،اما وقتی بزرگ شـــدم دریافتم،اســـرائیل تمام جهان اســـلام رادراشغال خود دارد به غیر ازغزه }

آری ایـــن ســـخنان امروز جنبـــه ی حقیقی رابه خـــود گرفته واین پرســـش را دراذهان عموم مطرح می ســـازد آیا ســـران کشـــورهای قدرت مند کـــه از امکانات نظامـــی واقتصادی برخوردارانـــد ،همچنـــان کشـــورهای کـــه درچهاراطـــراف فلســـطین واقع هســـتند درروز آخـــرت درپیشـــگاه خداوند عزوجل چه پاســـخی خواهند داشت؟

آیا امروز کشـــورهای که مرز زمینی با فلســـطین دارند، بنادر خودرا به روی اورګان فلســـطین مســـدود نکـــرده اند و مانع عبور کاروان های امداد رســـان به غزه نشده اند؟ بدون شک شـــده اند، اینکه چرا منحیث کشـــورهای اســـلامی دست به اقـــدام جدی علیه رژیـــم صهیونیســـت نمی زننـــد ، بخاطر اینکه امریکایی جنایت کار را درمقابـــل خود نبینند،اما باید سران کشورهای اســـلامی ازخواب غفلت بیدارشوند وتاریخ مبارزات آزادی خواهی مردم افغانســـتان را مرور کنند وازاین مردم سلحشـــور الگـــو بگیرند که چگونه بـــه یاری پروردگار عالمیـــان ، وبـــازوی توانـــای رادمـــردان شـــان بزرگتریـــن امپراطـــوران عصر رابه زانو درآوردند وبا دســـتان خالی ،اما ملبس با ایمان قوی ، متجاوزانی ماننـــد ، بریتانیاکبیر،اتحاد جماهیر شـــوروی و امریکایی مغـــرور راازخاک خود بیرون کردنـــد کـــه یقیناً این تاریـــخ حقیقـــی وآزادی خواهی مردم افغانســـتان درمقابـــل کشـــورهای کفری وقدرت منـــد مانند آفتاب روشن اســـت که باید جهلان اسلام ازآن بیاموزند که شیربرفی را جدی نگیرند.

**نشریه آمریکایی فارین افرز؛**

# آمریکا نتوانست امارت اسلامی را منزوی کند

**نشـــریه آمریکایـــی «فاریـــن افـــرز» بـــا بررســـی تحـــولات افغانســـتان تلاش‌هـــای آمریـــکا را بـــرای منـــزوی کـــردن امـــارت اســـلامی نـــاکام دانســـته است.**

**نشـــریه «فاریـــن افـــرز» وابســـته بـــه اندیشـــکده «شـــورای روابـــط خارجـــی» آمریـــکا در تحلیلـــی، تـــلاش هـــای آمریـــکا بـــرای منـــزوی کـــردن امـــارت اســـلامی افغانســـتان را نـــاکام دانســـته اســـت.**

**در ایـــن نوشـــته تحلیلـــی تذکـــر رفتـــه اســـت: رویکـــرد آمریـــکا طـــی دو ســـال گذشـــته نـــه تنهـــا خـــودداری از به‌رســـمیت شـــناختن امـــارت اســـلامی بـــوده، بـــل حفـــظ یـــک اجمـــاع بین‌المللـــی دراین‌بـــاره نیـــز بـــوده اســـت.**

**فاریـــن افـــرز در ادامـــه گفتـــه اســـت: دولـــت بایـــدن بـــه صراحـــت اعـــلام کـــرده کـــه قصـــد دارد از تهدیـــد انـــزوای دیپلماتیـــک بـــرای ترغیـــب امـــارت اســـلامی بـــه بهبـــود رفتـــار خـــود در ســـه زمینـــه اصلـــی اســـتفاده کنـــد: احتـــرام بـــه حقـــوق بشـــر، بـــه ویـــژه حقـــوق زنـــان، ســـرکوب فعالیت‌هـــای تروریســـتی در خـــاک افغانســـتان و پذیرفتـــن یـــک ســـاختار حکومتـــی فراگیرتـــر کـــه بازتـــاب جامعـــه متنـــوع قومـــی، مذهبـــی و قبیلـــه‌ای افغانســـتان اســـت.**

**فاریـــن افرزبـــا بی‌نتیجـــه دانســـتن ایـــن رویکـــرد، دردو ســـال و نیـــم گذشـــته تأکیـــد کـــرد امـــارت اســـلامی تلاش‌هـــای دیپلماتیـــک قـــوی بـــرای ایجـــاد روابـــط بـــا کشـــورهای همســـایه انجـــام داده‌انـــد و بـــا اشـــاره بـــه میزبانـــی کابـــل از ۱۸ ســـفارتخانه خارجـــی و فعـــال بـــودن شـــمار بیشـــتری ازســـفارتخانه‌ها و نمایندگی‌هـــای سیاســـی افغانســـتان در خـــارج ایـــن کشـــور نوشـــته اســـت: رهبـــران امـــارت اســـلامی به‌طـــور پیوســـته روابـــط اقتصـــادی خـــود را بـــا کشـــورهای مختلـــف در منطقـــه، از جملـــه همســـایگان دورتـــر ماننـــد آذربایجـــان، گســـترش داده‌انـــد. حتـــی هنـــد، قـــدرت منطقـــه‌ای کـــه بیـــش از همـــه نســـبت بـــه قـــدرت رســـیدن امـــارت اســـلامی محتـــاط بـــوده اســـت، ســـفارت خـــود در کابـــل را در ســـال ۲۰۲۲ بازگشـــایی کـــرد و در ســـال ۲۰۲۳ امـــارت اســـلامی امـــور ســـفارت افغانســـتان در دهلی‌نـــو را نیزدردســـت گرفـــت.**

**نشـــریه وابســـته بـــه اندیشـــکده شـــورای روابـــط خارجـــی آمریـــکا همچنیـــن تصریـــح کـــرده اســـت: از بیـــن رفتـــن اجمـــاع در مـــورد انـــزوای دیپلماتیـــک امـــارت اســـلامی ســـوالات مهمـــی را بـــرای واشـــنگتن و شـــرکای آن ایجـــاد مـــی کنـــد. عـــدم شناســـایی دیگـــر یـــک ابـــزار قهـــری معتبـــر نیســـت و ایـــالات متحـــده بایـــد راهـــکار خـــود را در قبـــال امـــارت اســـلامی تغییـــر دهـــد.**

**فاریـــن افرزاضافـــه کـــرد، درحالی‌کـــه دولـــت بایـــدن بـــه دنبـــال حفـــظ اجمـــاع بین‌المللـــی بـــرای رویکـــرد خـــوددر قبـــال امـــارت اســـلامی اســـت، گوتریـــش سرمنشـــی ســـازمان ملـــل، ترتیبـــات دومیـــن نشســـت بـــرای افغانســـتان در دوحـــه را انجـــام مـــی‌داد تـــا در مـــورد یـــک رویکـــرد هماهنـــگ و جمعـــی بـــرای تعامـــل بین‌المللـــی بـــا افغانســـتان مشـــورت کنـــد، چنـــد هفتـــه قبـــل از نشســـت دوحـــه، تصمیـــم شـــی جین‌پینـــگ بـــرای اســـتقبال رســـمی از ســـفیرامارت اســـلامی در بیجنـــگ ایـــن تلاش‌هـــا را پیچیـــده کـــرد و بـــه طـــور قابـــل توجهـــی مخالفـــت جهانـــی بـــا عادی‌ســـازی روابـــط بـــا کابـــل را از بیـــن بـــرد.**

**آژانس باختر**

# اولاد ته مو اسلامي تربیه ورکړئ!

منیر فاروقي

نن سبا چې یوه مسلمانه خور له کوره وځي، نو ښه په حجاب کې به وي؛ خو کله چې یو دوکان ته د سودا اخیستلو په نیت ننوځي، نو خپل مخ به ښکاره کړي. ته به وایې، چې په دوکان کې یې کوم محرم کس ولاړ دی، کله چې ترې وپوښتې، ولې دې مخ لوڅ کړ، دا دې څه کېږي؟ نو درته وایي به، دا خو دوکاندار دی یا دا خو بنجارې والا دی، سودا ترې اخلم. دوی ته داسې برېښي، چې دوکاندار ته مخ ښکاره کول کومه ګناه نه ده.

همدارنګه په خپل کور کلي کې به د نامحرمو سره ولاړه وي او خپلې ټوکې ټکالې به ورسره کوي، کله چې ترې وپوښتل شي؛ دا خو ستا لپاره نامحرم دی او ته ورسره ولاړه یې، نو په جواب کې به درته وایي، دا خو مې د تره زوی دی، دا مې د ماما زوی دی، دا مې د ترور زوی، دا مې لېور و، دا خو زموږ سره په یوه کوڅه کې وړوکی رالوی شوی او داسې نور.

یا به درته وایي، چې دا خو زموږ د کلي ملاصاحب، ډاکټر صاحب او ملک صاحب دی، نو ځکه مې مخ ترې پټ نه کړ. کله چې د نصیحت په ډول ورته ووایې، دا خو ټول ستا لپاره نامحرم دي، ستا کیناستل او درېدل له یادو کسانو سره ناروا دي. کوم کسان چې تا ځانته دومره نږدې خپلوان معریفي کړل؛ ستا له خبرو داسې معلومېږي، چې د نامحرم په نوم هېڅوک په دنیا کې نشته. بس دغه خبره بیا په دوی ښه نه لګېږي او وایي به، چې زه بابا! څه خوري خو مې نه او نه ګل یم، چې له بوټي به مې وشکوي. دا ټول هغه څه دي، چې د شیطان له خوا زموږ تورسرو ته پیچکاري کېږي. په دین کې بهانې نشته. په کوم کار چې الله جل جلاله امر درته وکړ؛ بس په هغه کې به بهانه جویي نه کوې او سمدلاسه به یې قبلوې او عملي کوې. که دې بهانې په کې جوړې کړې؛ نو الله جل جلاله به دې بدبخته کړي. ښه مثالونه یې موږ او تاسو په خپل ژوند کې ډېر لیدلي دي. مثلاً: کومه ښځه چې د خپل لېور څخه ستر او پرده نه کوي، نو د هغې ښځې او لېور اخري عواقب مو لیدلي، چې زیاتره وخت د دغه لېور او ورینږدار ترمنځ د زنا او نورو بدبختیو عامل ګرځېدلی دی.

همدارنګه ځینو کورنیو کې یو بل ناوړه عمل ترسره کېږي، چې اینګور د خپل خُسر لاس مچو کوي، سره د دې چې خُسر محرم دی؛ خو دومره هم نه، چې اینګور دې د خُسر لاس مچو کړي. یو عالم کیسه کوله، چې ما خلکو ته د خُسر لاس نه مچو کولو په اړه تبلیغ کاوه، ؛ نو د تبلیغ پای ته رسېدلو څخه وروسته یو ځوان راغی او راته یې وویل، چې زما مېرمنې زما د پلار لاس مچو کاوه، نو همدا د لاس مچو کېدل د دې ذریعه شوه، چې پلار مې په مېرمنې د ناوړه عمل ترسره کولو په نیت حمله وکړه؛ خو الحمدالله مېرمن مې الله وساتله، نو دا د الله په دین کې د بهانو او نورو ناروا راوجونو پیدا کولو نتیجه شوه.

یاد ساتئ مسلمانانو وروڼو! کوم کس، چې په دین عمل نه وي کړی او کامیابه شوی وي؛ یوه نمونه یې وړاندې کړئ یا داسې یو کس راوښایي، چې په دین یې عمل کړی وي او بیا ناکامه شوی وي. تاسو یوه سندرغاړې/ډمه یا ډم راوښایي، چې نېک بخته شوی وي او یا یو عالم راوښایي، چې هغه په دین عمل کړی وي او بدبخته شوی وي. تاسو به هغه خلک، چې په مجازي نړۍ کې نن سبا د سوپر ستار په نومونو یادېږي، د هغوی له ژونده خبر یاست، ښځې یې په خپلواک کې نه دي. یوه ورځ د یو په غېږ او بله ورځ د بل په غېږ کې پرته وي. پر یو بل یې هېڅ اعتماد او باور نه وي، صرف د روپیو ګټلو لپاره دومره ذلیل ژوند تېروي.

ګرانو وروڼو او پلرونو! اولاد خوږ او مهم دی؛ خو تربیه یې له هغې هم مهمه ده. ښځه مهمه او خوږه ده؛ خو تربیه او ساتنه یې له هغه هم مهمه ده. که ښځې او اولاد ته مو ښه تربیه ورکړه، نو دا به مو په دنیا او اخرت کې د سرتاج شي، که تربیه مو سمه نه وه؛ نو سبا به مو همدغه اولاد او ښځه خدای مکړه زنا، غلا، لواطت او داسې نور ناوړه اعمال ترسره کړي، نو بیا د همدغه پلار، خاوند او ورور سر په هر مجلس کې ټیټ وي او هیچا سره د سترګو لګولو نه وي. مثلاً که چا خپلې لور ته صحیح تربیه نه وي ورکړې؛ نو سبا هغه له یو نامحرم انسان سره له کوره تښتي، نو د پلار عزت یې له خاورو سره خاورې کړ او هیچا سره د سترګو لګولو نه وي، نو همدا ډېره غټه بدبختي ده. الله مو دې له داسې بدبختي وساتي. خو که همدغه پلار خپل اولاد ته سمه تربیه ورکړې وي او سبا خپله لور یو ځوان ته په حقه نکاح ورکړي، نو همدا پلار بیا ښه په فخر خلکو ته وایي، دا زما زوم دی.

که یو کس ښه تربیه شوی وي، هغه چې کله په یو مجلس کې خبرې کوي؛ نو هر څوک پوښتنه کوي، چې دا څوک او د چا خپل دی؟ نو خپلوان یې په ډېر فخر سره وایي، دا زموږ خپل دی، خو که چا سمه تربیه نه وي لیدلې؛ نو د هغه کس له خپلوي څخه هر خپل ځان پټوي او په خپلوي یې شرمېږي.

قدرمنو وروڼو! کوم اولاد ته چې بې حده زیات ناز ورکړل شي، د هغه څخه د کمال او هنر انسان نه جوړېږي. په راتلونکې کې داسې یو کس نه ترې جوړېږي، چې د خلکو د درد دوا شي؛ ځکه چا چې خپله درد او سختي نه وي لیدلي؛ د بل چا د درد دوا کېدی نه شي.

ګرانو هېوادوالو! زموږ هېواد ډېر دردېدلی دی، داسې چاته ضرورت لري، چې زموږ د دردېدلي هېواد د درد دوا شي او زخمونه یې پټۍ کړي. شکېدلی ګرېوان یې وګنډي. د خپل اسلامي نظام ملاتړ وکړئ، ځکه کوم مشران چې اوس لرو؛ ټول دردېدلي او د بل چا لپاره هم دوا کېدی شي.

# روژه له موږ څه غواړي!

مولوي ضیاء الحق حسان




دا چې روژه د کال په ټولو میاشتو کې غوره ده، د دې میاشتې درناوی باید په زیاتو عباداتو وشي، ځینې هغه شیان چې په دې میاشت کې یې شریعت له موږ غواړي:

۱- د حرامو شیانو پرېښودل: حرام شیان خو هر وخت نه دي روا بیا خاص په روژه کې ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي:

څوک چې د زور خبر (د دروغو شاهدۍ) او په هغه عمل پرېنږدي، الله تعالی ده ته حاجت نه لري چې یوازې خوراک او څښاک یې پرېښي.

یعنې په روژه کې باید د ټولو اندامونو روژه وي.

۲- تروایح: دغه لمونځ د رمضان په شپو کې سنت دی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: څوک چې د رمضان قیام الیل (تراویح) وکړي، ده ته مخکینې ګناهونه ښښل کېږي.

بخاري

۳- اعتکاف: اعتکاف سنت مؤکد دی د روژې په اخري لسو ورځو کې، ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایي: کله به چې د روژې اخري لس ورځې داخلې شوې، نبي کریم صلی الله علیه وسلم به شپه ویښه تېروله، خپل اهل به یې ویښولو، کوشش به یې کولو، لنګ به یې وتړلو(جماع به یې نه کوله، د عبادت لپاره به یې ځان فارغ کړ) او نبي کریم صلی الله علیه وسلم به په دې لسو ورځو کې داسې کوشش کولو چې په نورو وختو کې یې نه کولو.

٤- پېشلمی: روژه لرونکي ته د پیشلمي کول مستحب دي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي:

تاسو پیشلمی وکړئ په دې کې برکت دی.

٥- په روژه ماتي کې بیړه:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي:

زما امت به تر هغه په خیر وي تر څو چې دوی په روژه ماتي کې بیړه کوي.

٦- د روژه ماتي په وخت دعا:

د روژه ماتي په وخت کې دعا مستحب ده، ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي:

د دریو کسانو دعا الله تعالی نه رد کوي:

الف: د روژه لرونکي دعا د روژه ماتي پر مهال.

ب: د عادل امام.

ج: د مظلوم دعا.

٧- په خرما به روژه ماتوي، ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي:

چا چې خرما پیدا کړه، روژه دې پرې ماته کړي، که نه وه بیا دې په اوبو روژه ماته کړي، ځکه اوبه پاکوالی دی.

٨- روژه لرونکو ته روژه ماتی ورکول:

روژه ماتی ورکول مستحب دي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي:

چا چې روژه لرونکي ته روژه ماتی ورکړ الله تعالی به د هغه په شان اجر ده ته ورکړي.

٩- په نفلي عباداتو کې زیادت:

په روژه کې د نفلي عباداتو ډېروالی مستحب دی، لکه صدقات، د قرآن کریم تلاوت او نور ځکه د روژې نفلي عبادات د نور وخت له فرضو سره برابر دي!

# د یوې ورځې، که د لسیزو ماسټرۍ؟

مولوي نورالحق مظهري

کله چې د حوت پر ۱۸ د جمعې په ورځ د لوړو زده کړو وزارت د جامعاتو او تخصصاتو لوی ریاست لخوا د علماؤ د اسنادو د ارزیابۍ آزموینه واخیستل شوه ځینو مغرضو او ناخبرو انسانانو نیوکې پیل کړې چې ګویا د لوړو زده کړو وزارت په فوق العاده امتیازي ډول د یوې آسانې آزموینې په مقابل کې علماؤ ته د ماسټرۍ اسناد ورکوي؛ یادو کسانو په ډېرې سرټمبګۍ سره بېله دې چې ځانونه په حقیقت او واقعیت خبر کړي د شخصي ګمان او عنادي تخمین پر اساس تحلیلونه او بحثونه پیل کړل او یاده پروسه یې یوه ورځنۍ ماسټري ونوموله.

مخکې تر دې چې د یادې پروسې حیثیت او د علماؤ استحقاق بیان کړو مخکې له مخکې یادونه کوو چې پر یادې پروسې ټولې نیوکې د هغو خلکو لخوا کېږي چې یا خو بیخي د دې پروسې په اړه معلومات نه لري او یا هم د عناد او تضاد له مخې لکه د اسلامي امارت پر نورو مثبتو کړنو چې نیوکې کوي د علماؤ د اسناد پر ارزیابۍ هم نیوکې کوي.

له بده مرغه چې د اسلامي امارت څخه پرته چې کوم نظامونه په هېواد کې حاکم شوي د علماؤ سره د ضدیت له امله یې نه تنها دا چې علماؤ ته د ماسټرۍ اخیستلو آسانتیاوې نه برابرولې بلکې د هغوی علمي مقام ته یې ارزښت هم نه ورکاو؛ یواځې د افغاني کلتور په غوښتنه یې څه نا څه ښکاره د درناوي تبارز کوي له همدې امله د دیني مدارسو څخه فارغین علماء د علمي اسنادو څخه محروم پاتې سوي دي.

خو که واقعیت او حقیقت ته راشو دا به راته جوته شي چې قاطع اکثریت د علماء کرامو د ماسټرۍ د اسنادو مستحق دي ځکه کوم کسان چې په پوهنتونونو کې درس وایي او بیا ماسټري اخلي کومو علماؤ چې د ارزیابۍ په آزموینه کې کډون کړی و،څو برابره د ماسټرۍ د نصاب په کچه تدریس کړی دی او ټول هغه کتابونه یې څو ځلې تدریس کړي چې د لوستلو وروسته یې باید لوستونکي د ماسټرۍ سند واخلي.

دا په اصل کې علماؤ ته د دوی د حق ورکول دي چې نورو نظامونو ضائع کړي وو خو اسلامي امارت یې ورته ورکوي؛ نو ټول د علم، قلم او عقل خاوندان باید خپل سر خلاص کړي وروسته بیا د اسنادو د ارزیابۍ پر پروسته بحث وکړي ځکه یو عالم چې په کلونو یې د ماسټرۍ کتابونه تدریس کړي وي او په تخصص کې یې ډېر شاګردان روزلي وي ولې نو هغه د ماسټرۍ د سند څخه محروم شي په داسې حال کې چې هم استعداد لري او هم حضوري علم؟.

په دې باندې باید هر څوک ځان پوه کړي چې د آرزیابۍ آزموینه درسي پړاو نه دی چې درې ساعته یې په زرګونو انسانانو ته درس ورکړ وروسته بیا د ماسټرۍ سند ورکوي بلکې د لسیزو کلونو د درس او تدریس آزموینه ده چې آیا دغه کس عالم دی او که نه دی؟؛ که د یادې آزموینې سوالونو ته وګورو دا به را ته ثابته شي چې یاد سوالونه یواځې هغه کسان حل کولای شي چې عالم وي او په تدریس کې مهارت ولري.

د هر علم او هر عالم په وړاندې د وخت هر حاکم نظام مسئولیت لري چې باید یې آداء کړي خو له بده مرغه تېرو نظامونو یوه هم د دیني علم او دیني علماؤ په وړاندې خپل مسئولیت نه وو آداء کړی او د دیني علماؤ لپاره یې هیڅ مثبت پلان نه درلودی له همدې امله د دیني مدرسو سیستم او دیني علماؤ تدریس بیخي له پامه وغورځول شوي و تنها په خصوصي ډول دیني علماؤ خپل ټول پروګرامونه پر مخ بیول.

دا په خپل ډول کې په تاریخ کې بې ساري او په نړۍ کې بې مثاله کار دی چې د نورو تر څنګ دیني علومو ته هم په پوره توګه پاملرنه کېږي او د دیني علماؤ اسناد د دوی د لیاقت سره سم ارزیابي کېږي دا کار نه تنها دا چې د علم په ډګر کې لوی خدمت او لویه لاس ته راوړنه ده د علماؤ د ضائع شویو حقوقو ورکول هم دي او داسې ستر نوښت دی چې هېچا تر اوسه نه دی کړی ځکه نو ناخبره خلک او ضدګر انسانان نیوکې ورباندې کوي او په غلطو الفاظو یې تعبیروي.

زموږ ټول علماء کرام او مسلمان ولس باید د خپل اسلامي نظام څخه مننه وکړي او د نظام په پوره سمبالښت او بقاء کې د مسئولینو تر څنګ په تمامه معنی ودرېږي.

یاده آزموینه د هغو خلکو لپاره هم جواب دی چې اسلامي امارت په ملائیزم متهم کوي ځکه که بېله دلیله او بېله استحقاقه په پټو سترګو علماؤ ته هر شی ورکول کېدلای نو ماسټري به یې هم بېله آزموینې ورکړې وای او د آزموینې تر فیلتر به یې نه تېرولای.

## شعر او ادب

# په دې ګران افغانستان کې

**حامد عجفل**

فدايي په خدای پامان کې په سجده کړل
مجاهد په وروستي آن کې په سجده کړل
يوه څرېکه شوه ، ځوانان يې په لړزه کړل
طالبان يې په هجران کې په سجده کړل
سکوټر جانه امنيت خو دې منمه
جهازونه دې جهان کې په سجده کړل
د ډبې بم ډېر شکر اداء کړئ
نېفالونه يې آسمان کې په سجده کړل
د چريک او دکمين جانانه واوره
قوتونه دې خپل ځان کې په سجده کړل
هر ياغي باغي څټ ، واسکټ بمونو
په دې ګران افغانستان کې په سجده کړل
شاعرانو ؟ د عِجفِل طالب ياران مو
په سنګر شهادت او زندان کې په سجده کړل

## غزل

یک پند ز من بشنو خواهی نشوی رسوا
من خمرهٔ افیونم زنهار سرم مگشا
آتش به من اندرزن ، آتش چه زند با من ؟
کاندر فلک افکندم صد آتش و صد غوغا
گر چرخ همه سر شد ور خاک همه پا شد
نی سر بهلم آن را نی پا بهلم این را
یا صافیه الخمر فی آنیه المولی
اسکر نفرا لدا و السکر بنا اولی

# د نوروز جشن نمانځل څنګه دي؟

**محمدعلي عظمت**

هر قوم د ځان لپاره د خوښۍ او خوشحالۍ ورځې لري، چې په هغه کې دوی خوښي او خوشحالي کوي. په ډېر شور او زوږ سره يې لمانځي، لکه مسيحيان د کرسمس اختر لري، ځينې نور قومونه د يلدا شپه نمانځي او مجوسيان د شمسي کال لومړۍ ورځ د نوروز جشن په نوم تجليلوي، همدا د شمسي کال لومړۍ ورځ د مصر قبطي وګړيو هم لمانځله او دا د دوی د کال اوله ورځ وه.

د فارسيانو يو پاچا چې جمشيد نومېده هغه په فارس کې دا جشن پيل کړ او دوی باور درلود چې په دې ورځ (د حمل په لومړۍ ورځ) زردشت له الله جل جلاله سره مناجات وکړ، چې تر شپږو ورځو پورې وغځېده، نو دا د هغوی بې ځايه خرافاتي او باطله عقيده ده، ځکه زردشت نه نبي و او نه رسول و، بلکې مشرک و او د دوو خدايانو قايل و. هغه ويل: يو د رڼا خدای دی چې آهورامزدا يې بولي او بل د شر خدای دی چې اهريمن ورته وايي. د دوی دواړو ترمنځ مقابله ده او اخير به د خير خدای د شر پر خدای باندې برياله کېږي.

هو! د اسلام مبارک دين د يو واحد الله جل جلاله د منلو درس انسانانو او پيريانو ته ورکوي. الله عزوجل وايي:

(اې نبي! ووايه چې الله جل جلاله په هر اعتبار سره يو دی. الله جل جلاله هغه ذات دی چې ټول ده ته اړ دي، هغه چا ته محتاج نه دی. نه د هغه څوک اولاد شته او نه هغه د چا اولاد دی او د هغه سيال هيڅوک نشته) د اخلاص سورت «۱_۴»

نو زردشت او جمشيد دوی دود کړی جشن نمانځل په اتفاق سره حرام دي! ځکه رسول اکرم صلی الله عليه وسلم چې مدينې منورې ته هجرت وکړ، د مدينې هستوګنو دوې ورځې لوبې کولې.

حضرت انس رضي الله عنه وايي: کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته راغی (را مهاجر شو) او هغو [د مدينې هستوګنو] دوې ورځې درلودې، په هغو کې يې لوبې کولې، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: دا دوې ورځې د څه لپاره دي؟ هغوی وويل: موږ به د جاهليت په زمانه کې په دې دوو ورځو کې لوبې کولې. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: بېشکه الله جل جلاله د دې دوو ورځو په عوض کې له هغه څخه دوه غوره ورځې درکړې، چې يوه د لوی اختر ورځ ده او بله د وړوکي اختر.

هو! علماؤ کرامو د مدينې منورې د وګړيو له هغو دوو ورځو د نوروز او مهرجان جشنونه را وبستلي، چې دا دواړه د مجوسيانو اخترونه دي او موږ د دې اخترونو له تجليلولو څخه ايسار شوي يو.

خلاصه دا چې د کفارو په جشنونو کې ګډون کول حرام دي، بايد مسلمانان په دې کې له شرکته ځان وساتي، ځکه له کفارو سره مشابهت دی. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي: «من تشبه بقوم فهو منهم» مسند احمد، ابوداود او بيهقي.

ژباړه: چا چې ځان له کوم قوم سره مشابه کړ، نو هغه کس له هغوی څخه ګڼل کېږي. په پورته حديث شريف کې د کفارو په جشنونو کې له ګډون څخه منع راغلې ده.

۱ـ رسول الله صلی الله عليه وسلم چې پوښتنه وکړه، نو دا ترې جوتېږي چې اسلام له پرديو جشنونو مستغني دی.

۲ـ په ابدلکم الله خيرا منهما... په دې سره د جاهليت د اخترونو الغاء او له منځه وړل ثابتېږي.

۳ـ زموږ دواړه اخترونه له عباداتو وروسته ترسره کېږي.

۴ـ زموږ دواړه اخترونه د شکر اداء کولو لپاره دي.

تر ټولو غوره دا چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د پيدايښت په شپه الله ج د مجوسيانو د اتشکدې (اورتون) اور مړ (ګل) کړ، الله جل جلاله د دوی عقيده باطله ثابته کړه، بل دا چې په دې سره يې مشري او قيادت ترې واخيستل.

# دریم خوړ

**حامد افغان**

د غرونو خلک د خوړ په يوه بله غاړه د کر لپاره ځمکې جوړوي او بيا فصلونه پرې کري، چرته همداسې د خوړ پر يوه بله غاړه دوو بزګرانو ځمکې جوړې کړې وې، کله چې بارانونه وځنډېږي بيا دوی خپلې ځمکې د خوړ ګېډې ته راوغځوي، نو يو وخت د دې دواړو بزګرانو سره دعوه شوه، يوه ويل مقابل لوري زما خواته زيات راغلی او هغه هم کټمټ ادعا لرله.

اخير دواړه محکمې ته ولاړل او قاضي ته يې خپله دعوه وړاندې کړه، قاضي له څه ځنډ وروسته ورته وويل: تاسو دريم مدعي هم لرئ، هغه هم ستاسو پر ځمکو دعوه لري، کله چې هغه حاضر شي، نو په يوه ځای به فيصله درکوم، بزګرانو ورته دلته زموږ دواړو يوازې ځمکې دي، بل هېڅوک دلته نشته! نو موږ هم همدا دوه کسان دعوه سره لرو، دريم هېڅوک نشته. خو قاضي ورته وويل چې ماته معلوم دی شته، تاسو ولاړ شئ چې کله هغه راشي بيا موضوع راخلو.

څه وخت وروسته د بارانونو موسم راغی او بارانونه وشول او خوړ کې اوبه راغلې، نو طبعاً خوړ ته ډېرې غځېدلې ځمکې خوړ يووړې ، د بزګرانو د نزاع ځای هم خوړ يووړ.

بله ورځ قاضي صيب دواړه بزګران وليدل او ورته ويې ويل: ما نه درته ويل چې ستاسې دريم خصم (خوړ) به راځي، خپل حق به وړي او ورسره به ستاسو دعوه هم ختموي.

قضا له علم او پوهې سره د ژوند تجربې او زياته ځيرکتيا هم غواړي.

# د رمضان پنځمه او شپږمه ورځ؛ د تاريخ له پاڼو

**حسان مجاهد**

_د))عمورية)) ښار محاصره

معتصم بالله ته خبر راغی چې يوه مظلومه مسلمانه ښځه د يو قوي رومي کافر لاسته لويدلې او د «واه معتصما واه معتصما» چيغې وهي، نوموړی سمدستي له تخته را کښته شو او مظلومې زنداني ښځې ته يې په خپل خطاب کې وويل»ستا امر مې ومنل، په خدمت کې دې حاضر يم» زغره او وسله يې پر تن کړه، د قصر په دروازه کې يې په لښکر غږ کړ «هلئ جنګ ته تيار شئ!» قَسَم يې وکړ چې يا به د خلکو پر اوږو بار شهيد راستنېږم او يا به د مسلمانې ښځې انتقام اخلم، بس په همغه لحظه روان شو، د بغداد په «دار العامه» نومې ځای کې لس ورځې د لښکر په چمتو کولو او د جنګ په ترتيب بوخت و، له يو نيم لک جنګي پوځ سره روان شو، اتيا زره برګ او اتيا زره تور رنګه آسونه وو، بې شمېره جنګي وسلې او مهمات وو او «عمورية» ښار ته يې مخه کړه، هغه ښار چې د اسکندر مقدوني را وروسته يې له فتحه کيدو هر ځل مسلمانان مايوسه تللي وو، ځکه دا د سختو کلاګانو او ټينګو برجونو ښار او د روميانو د امپراتور «تيوفيل» هستوګنځی و. معتصم بالله چې ښار ته نږدې شو، عسکر يې په دريو ډلو ووېشل، هرې ډلې ته يې يو قومندان ور وټاکل او هرې ډلې ته يې يوه ورځ ځانګړې کړه چې په خپل نوبت به په ټاکلي ځای بريد کوي، لومړۍ ډله له ښاره دوه ځله تاوراتاو شوه او د ښار ديوالونو ته ځای پرځای شوه، ور پسې دوهمه او دريمه ډله هم ځای پر ځای شوه، په۲۲۳ هجري کال د رمضان په پنځمه نېټه د ښار ديوالونو ته شاوخوا له هر لوري منجنيقونه ودرول شو، په لومړي ځل لومړۍ ډله وجنګېده، ور پسې دوهمه او ور پسې دريمه، د څو پرلپسې ورځو جنګ پر مټ بيا هم د ښار ديوالونه د مسلمانانو مخ ته همغسې مظبوط ولاړ وو او چنداني اغيز يې ورباندې نه دی کړی، په دې سربېره د معتصم بالله او لښکر په مټو او مرال کې هېڅ ډول کمزوري نه ده رامنځته شوې. په ښار باندې مسلمانانو لس ورځې پرله پسې د منجنيق وارونه وکړه.....

چې بالآخره په ديوال کې يو سوری ښکاره شو، معتصم بالله همغه ځای په نښه کړ، تردې چې په ديوال کې يوه چوله پيدا شوه او مسلمانان سمدستي پرې داسې ور مات شو، لکه د څو ورځو تږي انسانان چې خوږې اوبهويني، په ښار کې دننه داسې جګړه ونښېده چې د تورو له شرکا، د غيشو له شنهاري، د جنګياليو له آوازونو او د زخميانو له آهونو پرته بل هيڅ شی نه اورېدل کيدل، د رمضان د اوولسمې ورځې لمر لا نه و ډوب شوی چې «عمورية» دمسلمانانو په لاس فتحه شوه، خليفه معتصم بالله په خپل آس سپور ښار ته په داسې حال کې داخل شو چې الله تعالی ته يې د عاجزي او شکر ايستلو له امله سر ټيټ نيولی و! مسلمانانو اويا زره ژوندي کفار ونيول او له شمېر زيات غنيمتونه يې ترلاسه کړل، معتصم خليفه د ښار د ويجاړولو امر وکړ او تر څو ورځو پورې په کې اور بلېده.

۲_د عبدالرحمن الداخل زوکړه

امير عبد الرحمن الداخل د روژې په ۵ نېټه ۱۱۳ هجري له د مشق نه بهر په يو لرغوني ښار کې وزيږېدو. د ۵ کالو په عمر کې يتيم شو او د ورونو او نيکه تر څارنې لاندې را لوی شو. کله چې په ۱۳۲ هـ کال په دمشق کې اموي خلافت ونړېده، عباسيان را پورته شو، ډېر اموي خليفه ګان يې ووژل خو نوموړی د اوبو له لارې په پټه توګه تر اندلسه ورسېده او هملته يې د اموي خلافت بنسټ کېښود. په قرطبه کې يې د ستر جامع مسجد بنسټ کېښود او دخلافت په موده کې د قرطبې د مسجدونو شمېر ۴۹۰ ته ورسېده. نوموړی په ۱۷۲هـ د ربيع الثاني په څلور ويشتمه وفات شو، زوی عبدالله پرې د جنازې لمونځ وکړ او قرطبې مسجد ته څېرمه خاورو ته وسپارل شو. د نوموړي تر ټولو سخت دښمن دوهم عباسي خليفه أبو جعفر منصور يوه ورځ له خلکو وپوښتل: تاسو صقر قريش(دقريشو باز) پېژنئ؟ دوی وويل هو ته يې! نوموړي وويل نه! ناستو کسانو د معاويه رض او عبدالملک بن مروان په ګډون د ډېرو سترو کسانو نومونه ياد کړل، خو نوموړي خپله ځواب ورکړ چې د قريشو باز عبدالرحمن الداخل دی!

۳_د أسپانيا په ښارونو حمله

په ۹۳هـ کال د روژې په پنځمه نېټه موسی بن نصير رح د أتلس زره غازيانو په ملتيا أسپانيا ته لاړ، هلته يې اشبيلية او نور واړه ښارونه فتح کړل، تر دې چې د فتوحاتو سلسله يې د فرانسې تر حدودو ورسېده ، په دې وخت کې د أموي خلافت د دربار بعضو مشاورينو و خليفه وليد بن عبدالملک ته مشوره ورکړه چې موسیٰ بن نصير دمشق ته ور وغواړي، ځکه چې د موسیٰ بن نصير رح د فتوحاتو ساحه که نوره پراخه شي، د أموي خلافت لپاره به خطر شي، هماغه وو چې موسی بن نصير رح يې دمشق ته ور وغوښت او د أروپا د فتح دوره يې تکميل نه کړه.

٤_له زينب رضي الله عنها سره د رسول الله نکاح

د هجرت په څلورم کال له زينب بنت خزيمة رضي الله عنها سره رسول الله نکاح وکړه، نوموړې په ام المساکين مشهوره وه، ځکه تل به يې له بې وزلو سره همکاري کوله. په ديرش کلنۍ کې وفات شوه، د جنازې لمونځ خپله رسول الله پرې وکړ او په جنت البقيع هديره کې خاورو ته وسپارله شوه.

د رمضان په شپږمه نېټه

۱_د ۱۷ کلن محمد بن قاسم په لاس د سند فتحه

محمد بن قاسم په ۷۲ هجري کال په عراق کې وزيږېده.

کله چې د نوموړي اکا حجاج بن يوسف ثقفي د سند د فتحه کولو اراده وکړه او فکر يې وکړ، چې دغه فتحه له يو قوي لښکر پرته چې مشري به يې يو زړور رهبر کوي؛ ناشونې ده؛ د مشر ټاکلو په اړه له نظره وروسته يې د جګړې د رهبرۍ لپاره محمد بن قاسم غوره کړ، دا مهال دغه زړور مشر ۱۷ کلن و.

نوموړي په حجاج باندې دا شرط ولګاوه چې لښکر به ښه زيات او په جنګي وسايلو سمبال وي، تر څو د فتحې په رامنځته کولو کې له ستونزو سره مخ نه شو، حجاج ور سره په وسلو او مهماتو سمبال د شپږ زره جنګاليو هوکړه وکړه.

محمد بن قاسم په ۸۹ هجري کال د رمضان په شپږمه روان شو، په لاره يې «قنزبور» او»أرمائيل» ښارونه هم فتحه کړو، تر دې چې د سند تر ټولو سخت ښار «الديبل» ته ورسېده. لومړی يې د هندوانو يو ستر عبادت ځای، چې مشهور بت پکې درول شوی و او هندوانو ورته د تقدس عقيده در لوده؛ د عروس په نامه د هغه ستر منجنيق پر مټ په نښه کړ، چې ۵۰۰ کسان به ورسره لازم و او له منځه يې يووړل، چې په له منځه وړلو يې د هندوانو معنويات سخت وځپل شو او بالآخره مسلمانان ښار ته داخل شو. په فتحه شوي ښار کې محمد بن قاسم يو مسجد ته بنا کړ چې څلور زره مسلمانان يې ورته را وبلل او په ښار کې يې ميشت کړل، تر څو اسلام قوي شي او د باطل دين تېر تول شي.

هندوان د نوموړي شجاعت ته حيران وو او زيات شمېر هندوانو اسلام قبول کړ، چې يوازې څلور زره تنه هندي مسلمانان ورسره په جګړه کې مله شو او په جګړه کې يې مثبت رول ځکه ولوباوه؛ چې په ښارونو کې بلد او په هندي ژبه پوهيده. نوموړي د اسلام ستر دښمن د سند لوی باچا داهر هم ووژل، له هغه وروسته يې «راور، رهماناباذ، ساوندري، سمند او ملتان ښارونه فتحه کړل او يو سل شل مليونه دراهم او د داهر (وژل شوي باچا) سر يې له ځان سره غنيمت يووړل.

۲_د هجرت په ۵۳۲ کال د رمضان په شپږمه د عماد الدين زنګي په مشرۍ مسلمانان په لومړي ځل په صليبيانو برلاسه شو او ددمشق شمال طرف ته «حلب» ښار يې فتحه کړ.

# د اسلام دردمنو!

ګل پاچا الفت

عابـده! هغه څه چې ته يې په ډېـرو وظايفو او نوافلوکې لټوې د خداى (ج) په خدمت کې ډېر ښه موندل کېږي. زاهـده! څـه شـى چـې تـه يـې د ځـان پـه ورېږي ساتلواونفلي روژو نيولوکـې غـوارې د مسـاکينواو فقيرانـو پـه مړولـو هـم لاس تـه درځـي. عارفـه! چـوپ کښېناسـتل او دخـداى(ج) پـه فکراوذکرمشـغولېدل عبـادت دى مګـر زوروړو تـه حق ويل او حـق بيانول ډېر لوى او سـتر عبادت دى. مسـلمانه! د قـران تـلاوت ثـواب لـري؛ مګـر پـه قـران بانـدې عمـل کـول فـرض دي. اى د تقوا او رياضت خاوندانو تاسـې لـه خپلوکوټنيو سرونه راوباسئ، له دې سـپينو ځادرونو مخونه ښکاره کړئ او په عالم کې سترګې وغړوئ، چې د خداى (ج) د مخلوق څه حال دى؟ او په څه راز مصيبتونو اخته دي؟ په جهان کې څه مظالم او څومره بې رحمۍ موجودې دي؟ تاسـې انصاف وکړئ! چې تسـبې اړول ډېرثواب لري که په سـرو غرموکـې قولبه کول او يو مسـکين مړول؟ پـه جـاى نمـاز بانـدې قرارکښېناسـتل ښـه دي؟ کـه د خـداى (ج) پـه لاره کـې سـتړي کېـدل؟

رښـتيا ووايـاسـت چې د بل په خېرات روژه ماتول ډېر ثواب لري که خپل مال له مسـکين او فقير سره خوړل؟ خپلې سترګې پټول ښـه دي که د بل سترګې خلاصول؟ د يـوه ضعيـف پېـټـى پـه خپلـه اوږه اخسـتل ډېراجرلـري؟ کـه خپله مسـله د بل پـه اوږه اچول؟ ما پوه کړئ! چې پاک خداى (ج) د خېرات اوشـکرانو په اخسـتلو ډېـر خوشـحالېږي؟ که پـه ورکولو يې؟ راشـئ! د خداى (ج) رضا اود اخېرت ثوابونه په ګرانو او سـختو کارونو کې اود مخلوق په خدمت کې ولټوئ! يو مظلوم د ظالم له منګولو خلاص کړئ، د يوې کونډې په سـر پوړنى واچوئ، د يوه يتيم اوښـکې پاکې کړئ! يـوه پوروړي تـه پور وکـړئ، د يوه رنځـور دارو او درمـل وکړئ،.... دغه خـوران او غريبان، چې د پاک خداى(ج) صادق او سـاده بنده ګان دي خپل خدمت ته مه رابولئ او مه يې مريدان کوئ، بلکې تاسې د دوى مريدان شـئ او خدمت يې وکـړئ، دخداى (ج) رضا اود خـداى (ج) جنت په دغه ډول حاصلولى شـئ او د دنيا ګټـه په هغه بل صورت لاس تـه درځي او درغلې ده.

# د نويو طبي او ټولنيزو مسايلو احکام

دويمه برخه ـ ليکنه: سمسور

۳ــ د (دعا تقدير بدلوي) رسول الله ص: (لا يرد القدر الا الدعاء). ژبـاړه: يـوازې دعـا تقديـر بدلـوي/ ردوي. د دې حديث شـريف مطلب دا دى چې دعا د خير او ښـېګڼې ترلاسـه کولو يو سـبب دى، ځينې شـيان داسـې وي چې له اسبابو سـره مقدر او تړلي وي، نو چې سـبب قايم شي، مقدر ثابتيـږي او که سـبب قايم نه شـي نـو مقدر هم نـه ثابتيږي. کله چې مسـلمان له خپل ربه دعا غواړي، نو خير او ښېګڼه يې په نصيب کيږي او چې کله دعا نه کوي نو بدي ورسره پېښيږي. بالکل هغسـې څنګه چـې الله تعالى رحم د اوږد عمر سـبب ګرځولى او بې رحمي يې د کم عمر سـبب بللى. (والله اعلم).

۴ــــ د ناروغي لـه امله د ژړلـو او نورو سـره د غږېدو حکم! پـه دې کې هيڅ خبره نه شـته، خو په دې شـرط چـې ژړل به يې نو له سـترګو يـې فقط د اوښـکو لوېـدل وي او اواز به په کې شـامل نـه وي. ځکه نبي کريـم صلى الله عليه وسـلم د خپـل زوى ابراهيم رضى اللـه عنه د وفات پرمهـال وفرمايل: (العين تدمـع والقلب يحزن ولا نقول الا مـا يرضى الرب وانا بفراقـک يـا أبراهيم لمحزونـون) [بخـاري: ۱۳۰۳] ژبـاړه:( لـه سـترګې اوښـکه بهيـږي، زړه خپـه کيـږي، خـو مـوږ هغـه څـه وايـو چـې رب تعالى نـه پـرې خپه کيـږي او اې ابراهيمـه! مـوږ سـتا پـه بېلتون غمجـن يو). د دې مفهـوم اړونـد حديثونـه ډېـر دي. د خپلـې ناروغۍ پـه اړه د خپلوانـو او دوسـتانو خبرولو کې کومـه خبره نه شـته، خو په دې شـرط چـې ته د اللـه تعالى ثنا وايې، شـکر يـې ادا کـوې، د روغتيا او صحـت دعا ترې غـواړې او د ناروغـۍ د درملنـې لپاره جايز اسـباب کاروې. مـوږ تاسـې صبـر کولـو او د صبـر پـه مقابـل کـې الله تعالـى څخـه د ثـواب غوښـتلو تـه را بولـو، نو تاسـې په دې زيـري خوښ شـئ چـې پـه اړه يې اللـه تعالـى وايي: ژباړه: (اې پيغمبره صلى الله عليه وسـلم) ووايه: «اې د خداى بندګانو چې ايمان مـو راوړي دى، د خپل رب څخه ووېرېږئ. کومو کسـانو چې په دې دُنيا کښې نېک چلند غوره کړى دى، د هغو لپاره ښـېګڼه ده. او د خداى ځمکه پراخه ده. صبر کوونکو ته بـه خپل اجر بې حسـابه ورکړ شـي.» [سُـورَةُ الزُّمَر: ۱۰] همـداراز د اللـه تعالـى يـو بـل ارشـاد دى: ژباړه:( او موږ هرومرو په وېره، خطر، لوږه، د سر او مال په تاوان او د عائداتو په خسـاره کښـې په اخته کولو په تاسـې ازمېښت کـوو، او [اې پيغمبـره (ص)!] صبر کوونکو ته زيـرى ورکړه؛ هغه کسـان چې کله ورته کـوم مصيبت ورسـيږي، نو ووايي:

«موږ د الله يـوو او د هغه (الله) لوري ته ور ګرځېدونکي يوو). دا هـم هغـه کسـان دي چـې د دوى د رب ج لـه خـوا پـرې ښـه او رحمـت دى او همـدا کسـان د سـمي لاري موندونکـي دي). [سُـورَةُ البَقَـرَة: ۱۵۵، ۱۵۶، ۱۵۷] د رسـول الله صلى اللـه عليه وسـلم فرمان بيا داسـې دى: (مـا يصيب المسـلم هم ولا غم ولا نصـب ولا وصب ــ وهو المرض ــ ولا أذى حتى الشوكة الا كفر الله بها من خطاياه). [صحيح البخـاري: ۵۶۴۱] ژباړه:( کله چې کوم مسـلمان ته څـه ملال، رنج، غم، سـتړيا او درد رسـيږي، يعنې ناروغيږي او څـه تکليف ور رسـيږي، ان تر دې چې کـه اغزى هم پرې چوخيـږي، نـو په بدله کـې يې اللـه تعالى ګناهونه ښـي). پـه يـو بـل ځـاى کـې فرمايـي: (من يرد الله به خيراً يصب منه). [صحيح البخاري: ۵۶۴۵] ژبـاړه:( چـا ته چـې اللـه تعالـى د خيـر او ښـېګڼې اراده کـوي، نو هغه پـه کـوم تکليف او ازمايښـت اختـه کوي).

۵ــــ د ناروغي پټول د مرض پټول له ښـکاره کولـو غوره دي، خو که له کوم شـکايت پرته ښـکاره شـي او چا ته يـې په اړه وويل شـي، نو څه بـاک نه لري. نبـي کريم صلـى الله عليه وسـلم (د خپلـې ناروغـۍ په ښـکاره کولـو سـره) ويلي و: (واه رأسـاه) ژبـاړه:( هـاى! پـه سـر څـه شـوي دي؟) نو کـه له کـوم ناروغ وپوښـتل شـي چې: تـا تـه د وېرېدو ضـرورت نـه شـته، مګـر هسـې سـتا څـه ناروغـي ده؟ نـاروغ ځـواب ورکـړي: زه دا او دا ناروغـي لـرم! دلتـه بايد د هغه هدف له ناروغي څخه شـکايت نه وي، بلکې اراده يې د ناروغيو خبر ورکول وي، چې کومه خبره په کې نه شته. نـو دا روا ده چـې کـوم نـاروغ لـه شـکايت پرتـه ووايـي: زه پـه پلانـۍ پلانـۍ ناروغـۍ اختـه يـم! دا خبره هـم معلومه ده چـې عقلمند او پوه انسـان د مخلوق پـر وړانـدې د خالق شـکايت نه کـوي، ځکـه رب تعالى په انسـان باندې له هغه او د هغه له موره هـم زيات مهربان دى. نـو د انسـانانو پـه مخ کې شـکايت کـول بې صبـري ده او مطلب يـې دا دى چـې ګيله کوونکـى د الله جـل جلاله په فيصلـې او تقديـر راضي نه دى. يو شـاعر څومره ښـه ويلي:

و اذا شـكوت الى ابن آدم أنماتشكو الرحيم ألى الذي لا يرحم

ژباړه:

او ته چې کله د ابن ادم تر مخه شکايت کوې نو معنى يې دا دى چې تـه د رحيـم ذات شـکايت هغـه چـا تـه کوې چـې رحم نه کوي.

## هند کې مذهبي ...

شرمه د کېبللې ده. بل پلو، د ګجرات د کورنيو چارو وزير پوليسو ته امر کړى، چې د دغه بريد عاملين ونيسي. دا په داسې حال کې ده چې په هند کې د مسلمانانو پر وړاندې کرکه مخ په زياتېدو ده او په دغه هېواد کې د مسلمانانو ګڼ جوماتونه رنګ شوي او د هندوانو پر معبدونو بدل شوي دي.

## هلمند کې پر دوه...

سټېشـن، بانـک، تفريحي پارکونه، ګدامونه، پسـت رسـونه، د نقيله وسايطو تمځايونه او نورې اسـانتياوې شاملې دي. د هلمند ولايـت صنعتي پـارک د هلمنـد ـ کندهار- کندهـار ـ هرات پر لويه لار جوړېږي چې تر ډېره يې کارونه بشـپړ شـوي او دا مهال يـې د ودانيو جوړولو چـارې دوام لري. د يادونـې ده، چې تېره ورځ د صنعت او سـوداګرۍ وزارت پـه ارزګان ولايت کې هم په ۷زره جريبـه ځمکه کې د يو صنعتي پارک لـه جوړولو څخه خبر ورکړى و.

## پوليس بلخ ۳۰۰...

تفنگچه، پيکا، راکت و برخی از انواع ديگر، بوده است. پوليس بلخ تاکيد کرده که همراه بـا اين مقدار جنگ‌افزار ۳۵ تن را نيز بازداشت و به پنجه قانون سپرده است. قابل يادآوری است، که نهادهای دفاعی و امنيتی کشور با تامين امنيت سرتاسری اجازه نگهـداری جنگ‌افزار، خريدوفروش و قاچاق آن را به هيچ فرد و گروهی، نمی‌دهند.

## د هرات زيانمنې...

د زلزلـې لـه کبله زيانمنې شـوې تاريخي آبدې پـه تخصصي توګه ورغوي. د ويلو ده چې په هرات کې وروسـتيو زلزلو د زرګونو انسـانو سربېره ګڼ تاريخي ځايونه زيانمن کړل.

## د پاشدان بند پاتې چارې...

بند پاتې چارې به په نږدې راتلونکې پيل شي. د پاشدان بند د دوه ميګاواټه برېښنا د توليد او ۵۰ ميليونه متر مکعب اوبو د ذخيره کولو ترڅنګ د ۱۳ زره هکتاره کرنيزې ځمکې د خړوبولو ظرفيت لري. د پاشدان بند د جوړونې چارې په ۱۳۹۰ کال کې پيل شوې، چې ټاکل شوې وه په درېيو کلونو کې به ګټې اخيسـتنې ته وسپارل شي، خو د بېلابېلو دليلونو له کبله يې چارې ودرول شوې او د اوو کلونو په تېرېدو سره يې يوازې ۳۰ سلنه چارې بشپړې شوې. خو په هېواد کې د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو وروسته او د امنيت په ټينګښت سره اوس د اوبو او انرژۍ وزارت هوډ لري چې دغه او نور هغه بندونه، چې د هېواد لپاره برېښنا توليد، زرغونتيا، کرنې سکتور پياوړتيا او د هېواد په اقتصادي برخه کې مهم رول لري جوړ کړي.

## د آمو سيند...

دغه پروژه چې د سـيند د څنډو د ويجاړيو د مخنيوي په موخه په لاره اچول شـوې ده، څه بانـدې ۲ کيلو متره د سـيند د څنډو تحکيمات پکې شـامل دي او د بولدروال په شکل پلي کېږي. د دغې پروژې ټوليز ارزښـت ۴۶ ميليونه افغانۍ ده چې د افغانسـتان د اسلامي امارت له بودجې څخه تمويلېږي. ټاکل شـوې ده نوموړې پروژه د ۵ مياشـتو په موده کې پلي شي او ۵۶۰۰ کسان به ورڅخه برخمن شي.

## د زابل د احصايي...

او ويـې ويل چـې خلکو تـه د پېژندپاڼو د وېشـلو پـه برخه کې غـوره چوپړتيـاوې وړانـدې کېـږي او دوى ترې راضـي دي او له نـورو خلکو هم وغوښـتل چـې ژرتـرژره دې ځان ته برېښـنايي پېژندپاڼې واخلي.

## ۳ زره کيلو ګرامه...

کې يوه اندازه قاچاقي توکي ترلاسـه کـړي دي. قاچاقوونکو نيت درلوده چې ياد توکي په پټه هيواد ته راولېږدوي. په ترلاسـه شويو توکو کې ۲۵۰۰ کيلوګرامه پاکستاني دال، ۷۷۰ کيلوګرامه نخود، ۱۴۸ بستې رُب، ۷۵ کارټنه چاکلېټ او ۱۲۳ بستې خرما شامله ده. دغه نيول شوي توکو د لا ښو اجراتو په موخه اړوندو ګمرکونو ته سپارل شوي دي. د يادونې وړ ده چې تر وړاندې هـم د هيواد په ګڼو ګمرکونو کې هيـواد ته د قاچاقي توکو د لېږد مخه نيول شوې ده. ماليې وزارت هم پر يو شمېر توکو بنديز لګولى چې هيواد ته دې نه راواردېږي.

## حمايت محصلان پوهنتون ننگرهار...

اسـلامی ملی با تامين امنيت شب و روز تلاش می کنند. تا جوانان کشـور در يک فضای کاملا آرام به درس و تعليم شان ادامه دهند. محصـلان پوهنتون ننگرهـار حمايت شـان را از نيروهای اردوی اسلامی ملی کشور اعلام داشتند.

## کابل ـ جلال آباد دويم سړک...

او د ياد سـړک د بيارغونې چارې ارزونه يې کېږي. د کابل والي په دې غونډه کې اړوندو رياسـتونو ته لارښوونه وکړه، چې ژر تر ژره د کابل ــ جلال اباد د دويم سـړک د بيـا رغولو چارې پيل کړي. د يادونـې وړ ده، چـې د کابل-جلال اباد دويم سـړک د ټولګټو، کانونـو او پټروليم وزارتونو له لوري د يـوه کان په بدل کې رغول کېږي.

## د افغان او ازبيک علماو...

خبـرې شـوې دي. د يادونې وړ ده چې د ارشـاد، حج او اوقافو وزارت د سرپرسـت شـيخ نورمحمد ثاقب په مشرۍ د دينـي عالمانو يو لس کسـيز پلاوى څـو ورځې وړاندې ازبيکستان ته ولاړ.

## حکومت او...

اوورځپاڼې به پنځوس سـلنه آزادي لري، يعني سـم په نيمايي به د حکومت خبرونـه، دعوې اوپيغامونه خپـروي او نيمايي نوره برخه کې به د رعيت اوعام ولس غوښـتنې، ګيلې، نيوکې اومشـورې خپرېږي. دا ډول تګلاره ځکه غوره اومناسب ګڼل شـوې چې له يوې خوا به د همدغو رسـنيو پرمټ د حکومت کړنـې، برنامې اوپيغامونه ترعوامو ورسـيږي اوله بلې خوا به د خلکو پرآواز، شـکايتونو اورغنده نيوکو اومشورو چارواکي په ښـه ډول خبرشي په يـاده تګلاره کې نه حکومـت دا حق لري چې يوملي تبليغاتي چينل په بشپړه توګه دځاني غرضونو اوځان سـتايلو لپاره وکاروي ځکه د رسنۍ لګښـت يې له بيت الماله دى چـې د ټول ملـت حق پکې دى اونـه دعواموله منځه کوم کس ته دامناسـب ده چې ياده رسـنۍ د شـخصي غرض اود ملت لپاره مضرو تبليغاتو لپاره اسـتعمال کـړي. په هرصورت چارواکوته په کارده چې هم دسرکاري رسنيو لپاره دهمدې ډګر هوښـياراو تجربه کارو اشخاصو په مشوره سـم قانون ترتيب کړي اوهم د خصوص رسـنيو لپاره داسې لايحه چې دافغانانو ټول ديني اوملي ارزښـتونه پکې مراعات شوي وي. اوس چې د څښـتن تعالى په فضل افغانان د پرديو له جغ نه آزاد اودخپل ملي حاکميت خاوندان شـوي دي، بويه چې اسـلامي امارت دغه مهـم ډګرته کامله توجـه وکړي. د بېلګې په توګه داسـې خبريالان وروزي چې ټولو افغاني ارزښـتونو ته ژمن وي اودغه رازملي اوخصوصي ګردو رسـنيوته يوه داسـې لايحه اوتګلاره وښـيي چې پـه واقعـي ډول ددې کرېدلي ملـت آواز،آرمان اوهنداره وي.

## زرګونو مېرمنو...

خبريال ته په يوې ځانګړې مرکه کې وويل: سږ کال ۱ لک او ۲۰ زره کسانو ته د کار جوازونه ويشل شوي او زيات ځوانان په دندو ګمارل شوي دي، چې پکې ۲۶ زره مېرمنو ته هم د کار جوازونه ورکړل شوي دي. د کار او ټولنيزو چارو وزارت وياند زياته کړه، چې ۲۶ زره ښـځې چې فقط مېرمنو ته خدمات وړاندې کوي او ټولې اړيکې يې د ښځو سره دي او اسلامي امارت په ټولو اداراتو کې مصؤن چاپېريال ورته برابـر کړى دى او دوي په امن فضـا کې خپلې دندې پر مخ بيايي. نومـوړى وايـي، چې اسـلامي امـارت خصوصي سـکتور ته ځانګـړې پاملرنه کـړې ده، د صنعتکارانو او کارخانـو د مالکانو سـتونزو ته يې رسـېدنه کړې ده، دغـه راز د کانونو په اسـتخراج کې هم پـه زياته انـدازه ځوانانو تـه د کار زمينه برابره شـوې ده. ښـاغلي ابراهيمي زياته کړه، چـې د کار او ټولنيزو چـارو وزارت په ټول هېـواد کې د فني او حرفوي زدکـړو ۵۲ فعال مرکزونه لري هغه هېـوادوال چې زده کړې يې نيمګړې پـاتي وي او بېکاره وي، خياطـي، برېښـنايي توکو جـوړول، فلزکاري، نجـاري، موبايل جوړول، موټر سـايکل، موټر جوړول او په تعميراتو کې د برېښـنا د لاينونو نصبول په بېلا بېلو حرفو کـې پروګرامونه دايرېږي چې د دې لارې څخـه مو زياتو هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شـوې ده. همداشان د نوموړو مرکزونو څخه هر کال نږدې ۲۰ زره ځوانان فارغېږي او په خصوصي سکټور او دولتي ادارو کې په دندو ګمارل کېږي. سـميع الله ابراهيمي پـه ټولو هغـه ځوانانو بانـدې غږ کوي، چـې بهـر ته پـه قاچاقي ډول سـفر کـوي، په واقعيـت کې د خپل ژونـد سره لوبې کـول دي او زيـات شـمېر هېوادوالو ته مو ياد سـفر د سر په بيـه تمامېږي، ځوانانو څخه مې غوښـتنه دا ده، چې پـه خپل هېواد کې پاتې شي او د وطـن د ابادۍ لپاره متـې راونغاړي تـر څو خپل هېواد پـه خپله جوړ او أبـاد کړو. همدارنګـه د کابل ښـار يو تن ځـوان محمد نبي صـافي وايي چې د اسـلامي امارت د مشرانـو څخه مې غوښـتنه دا ده چې ځوانانـو ته په بېلابېلو برخو کې د کار زمينـې برابرې کړي، ځکه دا مهـال مو ګڼ شـمېر ځوانـان بيـکاره او د مجبوريت څخه نـورو هېوادونو ته سـفر کوي، چـې د زياتو سـتونزو او ننګونو سره مخامخ کېږي، حتى د مرګ په بيه يې سـفر سرته رسـيږي. صـافي زياتـوي، د بيـکارۍ سـتونزه د مخکـې ادارې څخه اسـلامي امـارت ته په ميراث پاتي وه او اسـلامي امـارت دې د بيـکارۍ د منځـه وړلو لپاره هـر اړخيز پلانونه چمتـو کړي، په هېـواد کې دې لويـې کارخونې جوړې کړي، چې زيات شـمېر ځوانـان په دندو وګـمارل شي او د بيکارۍ کچـه صفر ته راټيټه شي.

**سميع الله مومند**


# Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Monday 18 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 407


# د افغان او ازبیک علماوو د همغږۍ پر زیاتوالي بحث وشو



د ارشـــاد، حـــج او اوقافو سرپرســـت وزیر شـــیخ نور محمد ثاقب ازبیکستان ته د ســـفر پـــه ترڅ کـــې د دې هېواد د مســـلمانانو ادارې له مشـــر مفتي شیخ نورالدیـــن خالـــق نظر ســـره لیدلي. د ارشـــاد، حج او اوقافـــو وزارت وايي، چـــې پـــه دې لیدنـــه کې له اســـلامي امارت په ځانګړي ډول د ارشـــاد، حج او اوقافـــو وزارت ســـره د همکاریو او اړیکو د پیاوړتیـــا، د دواړو هېوادونو د علماوو ترمنـــځ د اړیکو پر همغږۍ، د جوماتونو، مدرسو او د دیني زده‌کړو په برخه کې د تجربو په شـــریکولو **۷مخ**

## پولیسو اکاډمۍ ته څه باندې ۶ زرو ځوانانو کانکور ازموینه ورکړه

کورنیـــو چارو وزارت د پولیســـو اکاډمـــۍ بېلابېلـــو پوهنځیـــو ته د نـــوي ۱۴۰۳ هـــــ ل تحصیلي کال د جـــذب په موخه لـــه کابو ۶ زره ۴۷۸ ځوانانـــو څخـــه د کانکـــور ازموینې اخیســـتلو خبر ورکـــړی دی.دغـــه وزارت ویلي چې د یادې ازموینې د اخیســـتلو پرمهـــال د ازموینـــې ملي ادارې رئیس شـــیخ عبدالباقـــي حقاني، د پولیســـو اکاډمـــۍ تدریســـي مرســـتیال پوهیالـــی حضـــرت محمد محمـــود او د پوهنځیو یو شمېر رئیســـانو او استادانو ګډون کـــړی و.د یادونـــې وړ ده چې د اســـلامي امارت له بریا وروسته دا درېیـــم ځل دی چـــې زرګونه داوطلب ځوانان پولیســـو اکاډمۍ ته د جـــذب په موخـــه د کانکور ازموینه ورکوي.

ذبیح الله مجاهد:

## خبریالان د ملت او نظام ترمنځ د وصل استازي دي




د افغانســـتان اســـلامي امـــارت ویاند مولـــوي ذبیح اللـــه مجاهد د خبریالانـــو د مـــلي ورځـــې په مناسبت په یوه پیغام کې ویلي چې خبریالان د ملـــت او نظام ترمنځ د وصل اســـتازي دي.مولوي ذبیح الله مجاهد په خپلـــه ایکس پاڼه د هېـــواد ټولو خبریالانـــو ته مبارکي ویلـــې او هغوی ته یې د اســـلامي ارزښـــتونو او ملي ګټو په چوکاټ کې د لا ښه خدمت توفیق غوښتنه کړې ده.نوموړي له هغوی غوښتي چې د رســـنیزو اصولو په نظر کې نیولـــو سره لا ډېر هڅاند و اوسي. د یادونـــې وړ ده چـــې هـــر کال د کب ۲۷ مـــه نېټه په هېـــواد کې د خبریالانو د ملي ورځې په مناسبت نمانځل کېږي.

## کابل ـ جلال آباد دویم سړک د یوه کان په بدل کې رغول کېږي



د کابل والـــي ملا امین الله عبید په خپل کاري دفتر کې د کابل د کانونو او ټولګټو ریاســـتونو له مســـوولینو او استازو ســـره په خپل کاري دفتر کې کتلـــي او د کابل-جـــلال اباد د دویـــم ســـړک د رغونـــې خبر یې ورکـــړی دی.د کابـــل ـ جلال اباد د (دویم ســـړک) چارې چـــې لته بند له سروبي ولسوالۍ سره نښلوي، د بیارغونې چارې یې پیلېدونکې دی. یاد سړک، چې د اسلامي امارت له راتګ وړاندې په بنســـټیز ډول نه وو رغول شـــوی، د قیر اچولو په موخه یې د ولایت د مقام په مشـــرۍ درې کسیزه وټاکل شو **۷مخ**

## د هرات زیانمنې شوې آبدې بیارغول کېږي

د هرات د اطلاعاتو او کلتور ریاست مســـوولین وايي چې په دغه ولایت کې به هغه تاریخـــي ابدې بیاځلې له سره ورغول شي چې په وروستۍ زلزلې کې زیانمنې شوې وې.د دغه ولایت د اطلاعاتـــو او کلتور رئیس مولوي احمد الله متقي په افغانستان کې د آغا خان بنسټ د دفتر له رئیس اجمل میوندي سره په کتنه کې وویل چې اسلامي امارت د تاریخي آثارو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه کړې او په خبره یې باید موسسې او بنسټونه دې برخه کې همکاري وکړي.ورته مهال په افغانستان کې د آغا خان بنسټ د دفتر رییس اجمل میوندي وویل په دغه ولایـــت د اولې درجې تاریخي آبدو رغـــول یې لومړیتـــوب دی او هڅه کوي چې **۷مخ**

## هلمند کې پر دوه زره جریبه ځمکه صنعتي پارک جوړېږي

د هلمند ولایت د اطلاعاتو کلتور ریاســـت خبر ورکړی، چې په دغه ولایت کـــې به پـــر ۲۰۰۰ جریبه ځمکه یو تفریحي پارک جوړ شي. ددې تفریحـــي پـــارک د جوړونې پـــه پار د دې ولایـــت والي مولوي عبدالرحمـــن مســـلم کنـــدوزي غونډه کړې ده.پـــه دې غونډه کې د یاد صنعتي پـــارک د جوړېدو او فعالیتونو څخـــه د څارنې په موخه ۱۴ کســـیزه کمېټه هم ټاکل شوې. دغـــه صنعتي پارک چـــې په ۲ زره جریبه ځمکـــه کې جوړېږي، پکې ۲ بابـــه جوماتونـــه، یـــو روغتیایي مرکز، عمده پلورنځي، سوداګریزه سیمه، خوړنځای، برېښنا **۷مخ**

## پولیس بلخ ۳۰۰ میل اسلحه را کشف وضبط کرده است



قوماندانـــی امنیـــه ولایـــت بلـــخ می‌گویـــد، پولیـــس در جریـــان ســـال‌جاری ۳۰۰ میل جنگ‌افزارهـــای مختلف‌النوع را از مربوطـــات ایـــن ولایـــت کشـــف‌وضبط کـــرده اســـت. ایـــن قوماندانی دیـــروز با نشر خبرنامـــه‌ای گفتـــه کـــه ایـــن مقـــدار جنگ‌افـــزار از ســـوی منسوبان مبارزه با تروریسم این قوماندانی، کشـــف شده است. بربنیاد خبرنامه، جنگ‌افزارهای بدســـت آمـــده شـــامل، کلاشینکوف **ص۷**

## هشت شبکه آب‌رسانی درتخار به بهره‌برداری سپرده شد

وزارت احیـــاء و انکشـــاف دهـــات می‌گوید، هشت شـــبکه آب‌رسانی در ولایت تخار به ارزش ۴۷ میلیون افغانی، به بهره‌برداری سپرده شده‌اند. ایـــن وزارت با نشـــر خبرنامـــه‌ای از گشـــایش شـــبکه‌های آب‌رســـانی آشـــامیدنی، خبر داده است.بربنیاد خبرنامه، این شبکه‌ها در شهر تالقان مرکز ولایت تخار و ولســـوالی‌های ورســـج، رســـتاق، فرخـــار، چال و خواجه بهاءالدین این ولایت، تطبیق شـــده است.شـــبکه‌های آب‌رسانی یادشـــده به حمایـــت مالی صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد (یونیسف) ساخته شده‌اند.با گشایش شبکه‌های آب‌رسانی در تخار، زمینه دسترســـی نزدیک به ۳ هزار خانواده به آب آشامیدنی صحی، فراهم شده است.پس از حاکمیت امارت اسلامی تلاش‌هـــا به هدف فراهم‌ســـازی آب صحی برای شهروندان کشور در همه ولایت‌ها به شدت ادامه دارد.




## جمع آوری ۲۰۶ میلیون عواید مدیریت پاسپورت خوست

مقام‌هـــای قوماندانی امنیـــه ولایت خوست می‌گویند، مدیریت پاسپورت ایـــن در ســـال‌جاری ۲۰۶ میلیـــون افغانی عواید جمع‌آوری کرده است. طاهر احرار، سخنگوی قوماندانی امنیه ولایت خوســـت این مطلب را دیروز در صحبـــت بـــا خبرنـــگاران، ابـــراز کـــرده اســـت. آقای احـــرار افـــزوده که ایـــن مقدار عوایـــد از طریق توزیع پاســـپورت، جمـــع‌آوری شـــده اســـت. ســـخنگوی قوماندانـــی امنیه ولایت خوست تاکید می‌کند که در سال‌جاری چهال‌هـــزار و ۲۳۱ جلد پاســـپورت در این ولایت، توزیع شـــده اســـت. مقام‌های محلی در ولایت خوســـت در حالی از افزایـــش عواید مدیریت پاسپورت این ولایت خبر می‌دهند که در حال حاضر بودجه کشور از عواید داخلی تامین می‌شود

# رویدادهای خارجي

## هند کې پر تراویح کوونکو برید شوی




هندي رســـنیو خبر ورکړی، چې وړمه شـــپه د ګجرات پوهنتون په شپه غالي کې پـــر تراوېح کوونکو برید شـــوی چې د یوه افغان پـــه ګډون پکې ۵ تنه ټپیـــان شـــوي دي. د ان ډي ټي وي د څرګندونو له مخې؛ زده‌کړیالانو ویلي، چې د ګجرات پوهنتـــون په انګړ کې جومات نشته، نو له همدې کبله دوی د تراویـــح لمونځ د لیلیې دننه ادا کاوه. دغو بریدګرو د چړو او لرګیو په وسیله پر لمونځ کوونکو برید کړی او د دوی موټرسایلکونه، موبایلونه او لپټاپونه یې ویجاړ کړي دي.د هند د ولسي جرګې غړي او د هند د مسلمانانو ټولنې رییس اسدالدین اویســـي دا پېښه غندلې ده. دوی پوښتلې چې ایا د هند لومړی وزیر نریندرا مودي او د هند د کورنیو چارو وزیر امیت شاه به په دې اړه کوم اقدام وکړي او که نه؟د هند دغه چارواکي یاده چاره له **۷مخ**

## نایجریا کې د امریکایانو شتون ناقانوني اعلان شو



د نایجریا پوځ شـــاوخوا ۷ میاشـــتې وړاندې د هغه وخت ولسمشر محمد بازوم له واک څخه لرې او قدرت یې په لاس کې واخیست.د دغه هیواد نوي حکومت وړمه ورځ اعلان وکړ چې په دغه هیواد کې دې امریکایي ځواکونه نه اوسي او شتون یې ناقانوني دی. دوی د امریکایي ســـرتېرو د حضور پـــه اړه ترون یې په یو اړخیزه توګه لغوه اعلان کـــړی.د پوځ ویاند ویلي، چې تر دې وروسته په نیجر کې د امریکایي پوځیانو حضور د هېواد له ملي ګټو سره په ټکر کـــې دی. پوځ د خپل واک په لومړیو کې فرانســـوي سرتېري هم له خپل هېواد څخه شړلي او خپل هېواد یې له اشغال څخه خلاص کړی و.

## احتمال برنده شدن پوتین درانتخابات روسیه



دیـــروز ســـومین و آخریـــن روز انتخابـــات ریاســـت جمهـــوری روســـیه بود .ایـــن انتخابات که ولادیمیر پوتین را برای ششـــمین بار بـــه قـــدرت می رســـاند، از آخریـــن منطقـــه شـــرق روســـیه یعنی جزیـــره کامچاتکا آغاز بود و ۱۱ ســـاعت بعـــد در دورترین منطقـــه غربـــی این کشـــور یعنی کالیننگـــراد، بـــه پایـــان رســـید احتمال بروز اعتراض و شـــورش در زمان انتخابـــات وجود دارد. بـــه گفتـــه مقام‌هـــا در انتخابات روســـیه، ۱۱۴ میلیـــون نفر واجد شـــرایط رای دهی انـــد و تقریباً نیمـــی از آنها دیـــروز به صورت آنلایـــن رای خود را به صندوق‌ها ریختند.

**توجه !**

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**